# افغان تورکښ زړور وزير فتح خان



وزيرفتح خان( ۱۷۸۰ـ ۱۸۱۸ز )


نوماندا کادميسين سيستانی
پښتوژباړه: رحمت آريا
اکتوبر ۲۰۰۸


## دافغانستان ځواک اوپاچا جوړونکی، وزيرفتح خان

قـرنهـا صبر بايد که تا مام وطن
چون فتح خانوزيرباز بزايد پسری

پيری پيری زغم اوپـيـښ دي وګالل شي چي د هېواد موردې
د وزيرفتح خان په شان زوی دې نړې ته راوړي

### سريزه:

وزيرفتح خان دهېواد پياوړې ځواکمنه،پلټونکې، درنده، کارنده، زيارګالې، هېوادپاله، لوی لاسې، باتوره ، تورکښه او بې‌باکه جنګيالې سياسي څيره ده چې د سدوزي شاه محمود د واکمنۍ د مهال په کورنيو شخړواو جګړو کې يې په برياليتوب سر راپورته کړی او له همدې امله هغه ته يې د شاه محمودد پوځې ځواکونو د اتل نوم ورکړی دی. وزيرفتح خان د خپل ژوند د ورپېښ شوې برخلېک تړاو له ابو مسلم خراساني او بابـُک خـُرمدين او د سيمې له نورو سترو تأريخي څيروسره وَرته والی لري.

د بيلګې په توګه، ابومسلم خراساني، د خپلې ځوانۍ دسباوون په شپو ورځو کې د خپلې تورې په مټ د خلافت د واکمنۍ ګدۍ له امويانو واخيستلهاو عباسيانو ته يې وبخښله او په پای کې د عباسي د بې سپاسه خليفه (منصور دوانيقي (په لاس په خنجر ټوټه ټوټه شو، وزيرفتح خان هم چې د پياوړې ژمنې خاوند سړی وو، دوهځله يې پاچاهي له شاه زمان او شاه شجاع د تورې په زور واخيستله او واکمني يې دسدوزي شاه محمود په ورغوي کې کېښېښودله خو په پای کې د همدغه ناسپاسه پاچا پهلاربښوونه لومړی په دواړو سترګو ړوند کړای شو او بيا بند پر بند ټوټې ټوټې شو .

هماغسې چې ابومسلم خراساني په ۱۹ کلنۍ کې خپله پښه د سياست په ډګر کې‌کښې‌ښودله او ۱۸ کاله يې د عباسي خلافت د واکمنۍ لپاره يې توره وچلوله او په ۳۷ کلنۍ‌کې يې د دغو ټولو خدمتونو په هيداد "پاداش" کې خپله ککره له لاسه ورکړه، وزيرفتحخان هم په ۱۹ کلنۍ کې د سياست پر ډګر پښه کښې‌ښودله او د سدوزيو د واکمنۍ لپاره يې۱۸کاله توره وچلوله او د کې‌نه کښ او ناپوهه شهزادګي کامران له پلوه لومړی ړوند سواو وروسته د کامران د پلار شاه محمود په لارښوونه د ګنيو "نيشکر" د لښتې په شان بندپه بند ټوټه ټوټه شو. فتح خان پرته له دې چې يوه لنډه آه را پورته کړې او يا چيغې‌ووهي اويا له چا د زړه سواندی غوښتنه وکړي، مړينه يې پرته له

Download from: Aghalibrary.com

کوکارو په مېړاني ومنله .

سره له دې چې د وزوفتح خان مړینه د هغه د اوسپنیز او پیاوړي زغم اومیړاني له اړخه په دریمي پیړۍ کې د بابـُک خـُرمدین او خداش خراساني له مړیني سرهورته والی لري خو د هغه مړینه زموږ د هېواد او د ګاونډیو هېوادونو د تأریخ اوپینلېک د پیاوړمخورو څیرو له مړیني څخه لا له پرتمه ډکه ده. د نړۍ په تأریخ کې بهداسې سرې ونه موندل شي چې له وزیرفتح خان سره دې د ربړونو او ځورونو په ګاللو کېپرتله او یا جوګه شي. هغو کسانو چې دغه پېښه په سترګو لېدلې وایي : کله چې وزیرفتحخان یې واژه، نو د شاه محمود په لارښوونه د لښکر ټولو بولندویانو اومشرانو د هغه دوژني لپاره کتار جوړ کړ او هر یو یې په خپل وارلومړی د وزیرفتح خان د لاس ګوتې بیالاسونه تر اوږو او بیا یې د پښو ګوتې تر زنګنو بند پر بند بېلې کړې او وزیرفتح خاندغه ټولې ځوروني او ربړې داسې په مېړانه وزغملې چې له خولې یې یوه کوشنۍ آه هم راونه وتله او سره له دې چې ژوندی وو د هغه ککره یې له غاړې را پریک کړه او ژوند یېورڅخه واخیست. حال دا چې څو مېاشتې مخکې کامران میرزا دوه ځله د هغه په سترګو کېخنجر ورټومبلی وو ترڅو ړاده شي چې په ربښتیا ړوند شوی دی؟ !

له شډلتیا او دیوخویی د ډکې وژنې انځورونه په ویکو او کلماتو کې آسانه بریښې خو د بند په بند بیلولواو قصابي کولو انځور خورا ګران دی. که یوازې د هماغې پینې د یوې کوشنۍ شېبېځرنګوالی په سترګو کې را انځورکړو ، د ژوندي سړي د بدن د غړو پریکول، او کله چې یولاس یې ۱۸ ځایه په چړې پریک کیږي او بیا یې وار بل لاس ته را رسیږي او هغه لاس هم۱۸ځایه بند په بند له یو بله بیلیږي او بیا وار یې پښو ته را رسیږي او هر پښه یې‌په پینځلسو ځایونو کې بند په بند پریک کیږي او بیا یې وار د غوږونو او شونډوپریکولو ته رسیږي او هغه هم په ډیرې شډلتیا ورڅخه پریک کیږي او په پای کې د یوبېچوغکې په شان یې ککره له تنه ورڅخه بیلیږي او پر ژوند یې د پای ټکی کښېښودل کیږي،نو هلته به ددغه ناتار په تل کې د شاه محمود او شهزادګي کامران په برمانتېه ګرۍ اوشېل خوییی ښه پوه سو. شرم دې وي په داسې زړه یخولو او زړه کاني کېدلو !

وزیرفتح خان د یوه پیاوړي زړور ، سر لوړي او پرتمین ځواکمن په توګه ژوند وکړ او د خپل داعدام پر مهال یې بیا هم د یوه ننګیالي او دراند افغان په توګه له ربړو، شډلتیا اوځورونو سره جوګه مړینه د لښکر د هغو مشرانو له لاسه په نه منونکې مېړاني او سرلوړۍومنله چې څومېاشتې مخکې یې دده تر لاس لاندې کار کاوه او په خپلې مړیني یې هغوکسانو ته چې دده د بدن غړي یې‌بندپر بند په خنجر وربیلول ور څرګنده کړه چې په خپلپیاوړي اوسپنیز زغم کولای شې ټول دردونه او ټپونه د البلو ، کوربلو او زاریو لهویلو پرته وزغمي خو هېڅکله به د شاه محمود او کامران په څیر د یوه ناپوه پلار اوزوی ځان منونکو غوښتنو ته سر ټیټ نه کړي. یوه شاعر ویلي دي :

در جهان نتوان اگر مردانه زیست
همچومردان می توانمـردانه مرد
که په نړۍ کې د نارینه وو په څیر ونه شو کولای ژوند وکړو، خو کولایشو د نارینه وو په څیر مړه شو .
په جهان دې نارینه دی دا دوه کاره
یا بهوخوري ککرې یا به کامران شي

بابک خرمدین، مازیار طبرستاني، خداش خراساني، استادسیس بادغیسي او نور که د عباسي د خلافت د واکمنې پروړاندې د خپلو اوږد مهالو جګړواو هڅو په ترځ کې نیول شوي او د پردیو عربو له پلوه ټوټې ټوټې شوي دي، خو وزیرفتحخان د نیولو، ړندیدلو او د بند په بند بېلېدلو تر ورځې پورې هېڅکله د ځان او کورنۍلپاره د واکمنۍ او پاچاهۍ د نیولوهڅه ونه کړه او یوازې د شاه محمود د پاچاهۍ او دسدوزیو د پاچاهۍ د ځمکنۍ بشپړتیالپاره یې توره و چلوله خو ددغو ټولو له ځانهتیرېدنو او سرښندنو په بدل کې، پرته له ې چې کوشنۍ دوکه او خیانت یې کړی وي یوازېد دربار د یوشمیر رَخـَورو "کېنه ناکو" ځانغوښتونکو او بد سترګو درباریانو پهځانګړې توګه د سردار عطا محمد خان بامیزي او شهزادګي کامران د رخې او سخې په کرس کېلومړی ړوند او بیا د خپلې تروری 'عمه' د زوی شاه محمود له پلوه په ډیرې بیرحمۍ بندپه بند بیل او ووژل شو .

دشمن اګرمیکشد به دوست توان ګفت
با که توان ګفت کهدوست مرا کشت؟

که دښمن دې وژني نو خپل ته به ووایې، خو که خپل دې ووژني، چاته به ووایـئ؟

د سردار پاینده خان په زامنو کې چې لوېدېځو تأریخپوهانو هغوی دبارکزیو ورونو په نامه بللي دي، وزیر فتح خان د مشرۍ ، پوهې او کار، هوښیارۍ اوځیرکی ، میړاني او نارینتوب، زړورتیا او لوی لاسي، په ژبه ولاړ ، د ټینګښت او د غچاخیستنې (د افغانانو د یوې ځانګړې بېلګې) له اړخه ځانګړې پوهه او وړتیا درلودله اوله ټولو برلاسی وو. هغه پیاوړی هوډ درلود، ځیرک وو انقلابي او پېښه پاروونکی وو .دغو ټولو بیلګو چې د هېوادپالني او د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا او د هیواد په کورنیوچارو کې د پردیو د لاسوهنې له

منځه وړل ورسره يو ځای نغښتي ول، هغه ته يې داسېځانګړې بيلګې وربخښلې وې چې انګليسانو " کينګ ميکر" يا پاچا جوړونکی باله او کولايشو وزيرفتح خان " تاج بخښونکی" وبولو او د افغان په دغه ملي سرغندويه سرلارې کې دغهتولې بيلګې خورا ځلانده وې .

د هلمند د دغه نوميالي بچي چې د خپلواکۍ غوښتنې، سرلوړۍ او افغاني پرتم وېنه يې د هلمند د ځپانده سيند د ځپو په شان په هر رګ کې‌يې خوټېدله او په ختو کې يې ميرانه، زړورتيا او لوی لاسي پرته وه او سره له دې چېنوميالیتوب يې هر چيرې په درنښت يادشوی بيا هم موږ هغه په سمه نه دی پيژندلای .

ددغه پولادي هوډ او زغم لرونکي نوميالي د برخليک بيا پيژندنه به زموږراتلونکو حق پيژندونکو زوزاتو او نسلونو ته پرته له اړنګ او شکه د ستري زده کړې نوېکړکی پرانيزي او پوه به شي چې دهيواد د تأريخ ولسي لاربښوونکو په څه ميراني ژوند کړيدی. په دغې شننې کې به هڅه وشي چې د هېواد د تأريخ ددغې ځلاندې نوميالی ځيرې بياپيژندنه له ټولو اړخونو وکړو :

## د شاه زمان پروړاندې د فتح خان پاڅون

دسردار پاينده خان د وژنې د خبر په خپرېدا، فتح خان سره له خپلو ورونو او د بارکزيوله يو شمير خانانو لکه: عبدالسلام خان،عبدالواحد خان، امين الملک محمدرحيم خان لهدوه تنو نورو سره د اتو ساعتو په اوږدو کې د اسپ په سپرلی نادعلي ( د وزيرفتح خانمورنی کلا) ته چې د کندهار د لوېديځ په ۷۳ مايلي واټن کې پرته ده را ورسېدل او دبارکزيو د ټبر نور مشران يې د ګرشک په نادعلي کې د زمان شاه له دغه ګام څخه خبر کړلاو د خپل ټبر ژوره کرکه او قهر يې د زمانشاه په وړاندې را و پاراوه او له زمانشاهڅخه يې د غچ اخيستنې لپاره د خپل ټبر مرسته وغوښتله. زمان شاه د فتح خان او د هغه دوروڼو د نيولو لپاره يو شمير سرتيري سيمې ته وليږل خو سرتيري د هغوی د هېڅ يوه پهنيولو بريالي نه شول او بيرته کندهار ته را ستانه شول. په هلمند کې د بارکزيو ميشتومشرانو، د سردار پاينده خان مشر زوی فتح خان د خپل ټبر د مشرپه توګه غوره کړ او خپلواک او پريکړه يې د هغه په لاس کې ور کښيښودله. فتح خان هم د بارکزيو د ټبر لهمشرتابه څخه په آزميښت بريالی راووت او د غچ اخيستنې لپاره کومه تابيا يې چې په ترڅکی يې پاچا او د هغه وزير ووژني نيولې وه، پلې کړه او ښه پايله يې ترلاسه کړه .

فتح خان پريکړه وکړه چې د شاه زمان ورور شهزادګي محمود ته چې په ۱۷۹۷زکالکې يې د خپل ورور پر وړاندې پاڅون کړی وو او له ماتې وروسته بخارا، خوارزم او ايرانته کډوال شوی وو، اوږه ورکړي. الفنستون لیکي چې : شهزادګي محمود د وخت له غوښتنېسره سم په لومړيو کې د خپل ورور واکمنی ته غاړه کښيښودله خو کله چې خپل ورور يې لهکندهار ليرې ولېږد نو په پاڅون يې لاس پورې کړ او يو پياوړی لښکر يې د کندهار پر لوروخوځاوه. شاه زمان د فراه د نيولو لپاره يو ځواک وليږه او په خپله، لومړی کندهار اوبيا پېښاور ته ستون شو (۱ ).

شهزادګي محمود په ۱۷۹۷زکال کې يوځل بيا پاڅونوکړ او له ماتې وروسته ايران ته وتښتېد او ځان يې د تهران دربار ته ورساوه چې فتحعليشاه ورته په ډير ورين تندي ښه راغلاست ووايه. د ۱۷۹۸زکال په پسرلي کې محمودکاشان او له هغه ځايه اصفهان ته ولاړ او د ۱۷۹۹ زکال تر پسرلي پورې په اصفهان کېپاتې شو او بيا يې له هماغه ځايه په هماغه کال کې پر خراسان د تيري لپاره د ايران دپاچا ملاتړ وکړ. کله چې شاه له خراسانه بيرته ستنېده نو محمود په خراسان کې پاتې شواو هلته يې هڅه وکړه چې پرهرات د يرغل لپاره د هغه ځای د مشرانو پام ځانته راواړاوي. په ترشيز او طبس کې بريالی نه شو خو ويې کولای شوای چې د قاين او بيرجند دواکمن مهرعليخان ملاتړ ترلاسه کړي او له لس زرو سرتيرو سره يو ځای د هرات پر لور راودرومي. په سبزوار کې له يوه لښکر سره مخامخ شو. دغه لښکر شهزادګي قيصر د زمان شاهزوی له کندهاره د هغه مخنيوی ته ور ليږلی وو خو دغه لښکر هېڅ ونشو کړای او ماته يېوخوړله او محمود په بریالیتوب پرمخ ولاړ او هرات يې کلابندي کړ. وفادار خان يو چلوکړ چې محمود يې پر مهرعليخان شکمن کړ. شهزادګی د شپې په ترڅ کې له لښکرکوټهوتښتېده او د بخارا پرلور يې ودروړل او مهرعليخان هم په نا چارای خپله مخه بيرتهونيوله او خپل هېواد ته ولاړ .

فرير، د وزيرفتح خان په اړه لیکي :" وزيرفتح خان دلوړې وړتيا لرونکی څښتن وو چې د پياوړي نبوغ ترڅنګ د حکومت کولو او جنګېدلو وړتيايې هم درلودله... او په کړو وړو کې يې ساری نه درلود... افغانانو فتح خان ته پهخورا درنښت کتل، حال دا چې خپل پاچا ته يې په سپکه کتل." (۸۳ )

شهزادګيمحمود په بخارا کې په توده غيږ کې ومنل شو او د پاچاهۍ په يوې مانۍ کې ديره شو .محمود تر هغه مهاله دلته ديره وو چې د بخارا د پاچا، شاه مراد دربارته د زمان شاهسفير را ورسيد، سفيرد شاه زمان نیوکه شاه مراد ته را ورسوله چې ولې يې محمود چې دخپل هېواد د پاچا پر وړاندې يې پاڅون کړی په خپله غيږ کې منلی او ويې غوښتل چېمحمود دې هغوی ته ور وسپاري. سفير ته واک ورکړشوی وو چې د محمود د سپارلو په بدل کېدې د بخارا پاچا ته ګران بيه سوغات ورکړي. ډيري کسان دا مني چې نيږدې وو شاه مراد ،محمود سفير ته ور وسپاري خو محمود وويل چې د حج د سفر تکل يې کړی او په دغې دينيپلمې يې د مذهبي پوهانو

ملاتړ تر لاسه کړ، خو یو بل ګزارش چې ډېر رښتیا برېښي وايي‌چې شاه مراد نه غوښتل شاه زمان و ځوروي او هم يې نه غوښتل مېلمه ته د خیانت په تورخان نوم بدی کړي. نو له دې امله يې په پټه محمود ته د رامنځته شوي ګواښ په اړه خبرورکړ او ورڅخه يې وغوښتل چې په خپل تګ دې د ټولو ستونزو ټغر راټول کړي. شاه محمودله بخارا څخه خوارزم (اورګنج) ته ولاړ او له هغه ځایه بیا يې ایران ته مخه کړه) .۲ .(او په دغو شپو ورځو کې د ایران د کرمان په زړه بوږنوونکو تودوخې کې سربدالهګرځېده . فتح خان په دې هېلې چې له شهزادګي محمود سره یو ځای شي، د ایران پر لورو خوځېد او د سیستان له لارې يې د سیستان کرمان تر منځ بې اوبو او وښو وچه دښته داته کروه (فرسخ) په واټن ووهله او کرمان ته چې محمود پکې دیره وو ورسېد او هغه يې دزمان شاه پر وړاندې وهڅاوه چې پاچاهي ورڅخه ونیسي. وروسته دواړو په قران سوګند وکړچې له یو بل سره به همکاری کوي او هېڅ خیانت به یو بل ته ونه کړي. وروسته له پینځوسسپړو سره یو ځای د سیستان پر لور را وخوځېدل. هغوی په لنډه موده کې د هغه وخت دسیستان مرکز ، جلال آباد ته را ورسېدل. د سیستان واکمن، ملک بهرام کیاني افغانانوته په ورین تندي غیږه پرانیستله او بیا يې د ددوستۍ د لا زیاتیدلو په هېله خپله لورد شاه محمود زوی شهزادګي کامران ته په نکاح ورکړه او لوړه يې و کړه چې د شاه محمودملا به د کابل د واکمنۍ د ګدۍ په نېولو کې ور وتړي. خو فتح خان سلا ورکړه چې دغهګام د هغوی په ګټه نه دی نو له دې امله نومړي واکمن د محمود له لښکر سره له یوځایکېدنې او هملارۍ څخه لاس پر سر شو خو ملک بهرام کیاني د هغوی ملا په وسلو او پیسوور وتړله .

## د کندهار په سوبه کې د فتح خان ونډه :

فتحخان له ځانه مخکې خپل دوه ورونه له ۱۸ سپرو سره له سیستانه فراه ته ولیږل چې هلته ددراني سرلارو په ځانګړې توګه د فراه د بارکزیو د ټبر د مشرانو ملاتړ را خپل کړي .وروسته فتح خان له محمود او کامران میرزا سره فراه ته راغی. محمود او فتح خان د شاهزمان او د هغه د ناتار او ځانغوښتنې په اړه د فراه پرګنو ته کیسې وکړې او په پایکې د درانیو یو شمیر جنګیالیو خپل تیارى څرګند کړ چې د محمود او فتح خان ملګرتیا بهکوي .

محمود له دغو ځواکونو سره یوځای د کندهار پر لور را ودرومل او څرګندهده چې ددغه ځواک ملا د ګرشک او د هلمند د ناوې د سیمې بارکزیو هم ور وتړله. کله چې‌محمود د بارکزیو له سرلارو سره کندهار ته را نیږدې شو، د کندهار والي مهرعلیخاناسحاقزي چې شاه پسند خان بلل کېده، سره له خپلو څلور زرو سپړو د کندهار دفاع ته ملارا وتړله، خو فتح خان داسې چل وکړ چې د والي ځواکونه يې د هغه پر وړاندې را پاځولاو والي له ویرې له ښاره وتښتېد. فتح خان ښار کلا بند کړاو له ۴۲ یا ۴۳ ورځوکلابندۍ وروسته يې ښار ونیو. شیرازي وايي چې فتح خان لومړی سړې وو چې د ښار پردیوال په یوې څرمنیزې رسۍ وخوت اود شاهي نغارې، نغاره يې په خپل بوټ و ډنګوله او پهلوړ غږ يې وویل چې اوسنی دور، د محمود دور دی! دهغه په دغه غږ د ښار دروازېپرانیستل شوې او محمود سره له خپلو سرتیرو ښار ته ننوت اود ښار ساتونکو(ساخلو : تورکي لغت دی) محمود ته پوځې سلام وکړ. (۳). الفنستون وايي چې فتح خان په یوازې سرښار ته ننوت او د عبدالله خان په نامه د ښار له یوه تن مشرانو څخه يې مرستهوغوښتله. عبدالله خان د محمود په پلوۍ را پاڅېده او د ښار دروازه يې د محمود پر مخرا پرانسیتله او مهرعلي خان له بلې لارې وتښتېد او زمان شاه په سند هـ کې وو چې دکندهار د پرځېدنې خبرېې تر غوږ ورسېد. (۴ .(

د یوې بلې وینا له مخې دغه کارد یحیى خان بارکزي له پلوه ( ظاهراً د قاضي محمد سعید خان بارکزي په سلا) له پلوهوشو چې ځان يې وختي فتح خان ته رسولای وو او د هغه په لارښوونه فتح خان پریمانهزینې را ټولې کړې او بیا يې پرښار یرغل وکړ او ښار يې د تورې په مټ ونیو (۵). پهدغه مهال وزیرفتح خان ۱۹ کلن وو. شهزادګی حیدر سره له یارمحمد خان اود زمان شاه نورخانان بندیان شول. فتح خان له شاه محموده وغوښتل چې عبدالرحیم خان سدوزی او د هغهپلار دې اعدام کړي او بیا دې خبرتیا خپره کړي چې د درانیو په کړو وړو هغه مهال ډاډکېدای شي چې د زمان شاه له ملاتړه لاس واخلي او خپله پالوالي یا وفا دې په خپلو کړوکې را څرګنده کړي، شاه محمود کټ مټ همداسې وکړل (۶ .(
په دغه وخت کې شاه محمودفتح خان ته د وزیر څوکۍ ورکړه او د " شاه دوست" نوم يې ورکړ اود کندهار قاضي القضاتقاضي محمد سعید خان ته يې د " خان علوم" نوم [چې د پوهاندي له رتبې سره برابره ده [ورکړ. (۷) . فتح خان د مُـهـُر په نښه کې لاندینی بیت ویل شوی وو :

طالعمحمود را نازم کزوست سرفرازملک ودولت شاهدوست
یا
طالع محمودرا نازم کزوستسرفرازفتح ونصرت شاهدوست

اود قاضی محمدسعید بارکزي مهر ته يې په لاندینۍ بیت:

محمدسعید از فضل حق مشهود شد قاضی القضات شاه محمودشد
رسمیتورکړ.(۸(

### د کابل سوبه :

د کندهار له نیولو وروسته شاهمحمود د خپل لښکر د پیاوړي کولو لپاره پیسو ته اړتیا درلودله. ددغه کار ترسره کولیې د وزیرفتح خان پر اوږه واچول. کله چې فتح خان د پاچاهې پانګه په خپلو منګولو کېږا خپله کړه، د ښار یو شمیر مشرانو او شتمنو هم یو شمیر پیسې را ټولې کړي چې د لښکرلوموړنی اړتیاوې پرې برابرې کړي او د خپلو جنګیالیو شمیر یې پینځوس زرو ته لوړ کړ) .۹(

په دغه وخت کې شاه زمان سندهـ ته نیږدې دیره وو او پرهندوستان یې د یرغلپریکړه کړې وه خو د مهرعلیخان اسحاقزي (ساکزي) له خولې یې د کندهار د نیولوخبرواورېد. شاه زمان د سترګو په رپ کې خپل ورور شاه شجاع په پیښاور کې پرېښود اوخپله د کابل پر لور را وخوځېد، خو کابل ته له راخوځېدلو مخکې یې غوښتل چې د کشیمر دوالي عبدالله خان الکوزي غوږونه ورتاو کړي. زمان شاه د ډېرو سرونو په بایللوعبدالله خان ونیو او زندی یې کړ. د زمانشاه دغه خوځښت د شاه محمود په ګټه پای تهورسید، ځکه د هغه ورور سیدال خان الکوزی په کندهار کې وو او کله چې د زمان شاه لهدغه ګام څخه خبرشو، نو له خپل ټبر سره یو ځای د شاه محمود په چوپړ ور ننوت ۱۰) ).

کله چې شاه زمان کابل ته را ورسید ، نو په خپلې تیر وتنې پوه شو او ددرانیو د سردارنو په اړه یې له خپلو پخوانیو کړو وړو څخه پښیمانې څرګنده کړه. هغهپه ډېرې خوارۍ دوه لښکره را جوړ کړل، یو یې د احمد خان نورزي او خپل زوی شهزادګیناصرتر مشرۍ لاندې د کندهار پر لور ولیږه او دویم لښکر یې دوه کروه (فرسنګ) لیرې دلومړي لښکر ترشا تر خپلې مشرۍ لاندې واخیست او د غزني پر خوا وخوځېد. احمد خان نهله وفادار خان څخه او نه له شاه زمان څخه ښه زړه درلود، او په پښېمانۍ او د زړه پهدرزا د کندهار پر لور یې درومل. خو فتح خان چې انګلیسي " پیرس یې " د " محمود دځواک نابغه " بولي، د احمد خان په ختّه او رخه ښه پوهېده، ځکه فتح خان له پخواپوهېده چې د جګړې له پېښېدلو مخکې کولای شي نوموړی له ځان سره یو ځای کړي او د شاهزمان لاسونه له شا ور و تړي، هغه پوهېده چې :



دغې موخې ته د رسیدلو لپاره فتح خان داحمد خان د ورور عبدالله خان په اړه چې د شاه محمود په لښکر کې وو او په احمد خانډیر ګران وو ، سوچ وکړ او بیا یې له شاه محمود سره سلا وکړه او څرګنده ده چې شاهمحمود د فتح خان ددغه سوچ ملاتړ وکړ. فتح خان په بیره عبدالله خان یې په یوې پلمېبندي کړ او داسې یې څرګنده کړه چې ګنې نوموړي، پاچا ته خیانت کاوه او ښایي اعدام شیاو یوازې هغه مهال به له اعدامه وژغورل شي چې ورور یې احمد خان د زمان شاه له لېکورا بیل او له شاه محمود سره یو ځای شي. کله چې احمد خان نورزی د (غزني او مقر،قلات) ترمنځ د " سر اسپ" سیمې ته را ورسید او د شاه محمود له ځواکونو سره مخامخ اود خپل ورور له برخلېکه خبر شو، نو د سترګو په رپ کې له خپل لښکر سره چې شمیر یېپینځلس زرو سرتیرو ته رسیده د فتح خان له لښکر سره یو ځای شو او شهزادګي ناصر دمورچل له شا دغه خبر خپل پلار زمان شاه ته ورساوو ۱۱) ).

د فتح خان دغه چل دزمان شاه پر سیاسي او پوځي وړتیا مرګونی ګواز وکړ او کله چې د احمد خان نورزي او دهغه د زوی د تسلیمېدلو خبر ورته راورسید، نو زمان شاه او وزیر یې وفادار خان د خپلځان په ویره کې ولوېدل او ځان د ژغورنې لپاره یې تېښتې ته ملا را وتړله. د زمانشاهلښکر هم خور و ور شو. پا چا او وزیر یې لومړی غزني او بیا له هغه ځایه کابل ته پهشا شول چې له هغه ځایه بل لښکر راجوړ کړي، خو د هغوی نقشې بدلون وموند او د نویلښکر د راټولولو پرځای چې له وزیرفتح خان سره یې جګړې ته را چمتو کړي، خپل شته اومل لښکر یې هم له لاسه ورکړ. د زمان شاه د دربار چاپیره له وفادارخان او زمان خانپوپلزي (بامیزي) او له لښکره یې له دوه سوه تنو سپرو او څلور سوه پلیو جنګیالیوپرته، نور څوک نه ول پاتې. شاه زمان همدغه شمیره له ځان سره واخیستله او د جلالآباد پر لور وخوځېد .

شاه محمود، وزیرفتح خان یې د دوه زور سپرو سرتیرو پهملتیا د کابل پر خوا ولیږه او وزیر فتح خان په بیړه او ګړندۍ توګه د مقر ، غزني اوکابل ترمنځ لاره ووهله. د فتح پرمخ د کابل دروازې د دوه تنو قزلباشانو: میر اصلانخان او جعفرخان جوانشیر له خوا پرانیستل شوې ځکه نوموړي قزلباشان له شاه زمان څخهپه دې خوا بدي ول چې د هغوی دوه تنه سرلاري یې ور وژلي ول او له مخکې یې له محمدزیو سره خپلوي کړې وه او شاه محمود د کابل د بالاحصار په مانۍ کې د واکمنۍ پرګدۍ ډهډه ولګوله- ۱۸۰۱زکال ، جولای. (۱۲ (

### له شاه زمانه غچ اخیستنه :

وزیر فتح خان ترهغوپه کرار کښې نه ناست چې شاه زمان او د هغه بد چارې وزیر وفادار خان یې د خپلو کړووړو په سزا ونه

ږ َسول. وروسته له دې چې‌شاه محمود د کابل د واکمنۍ پرګدۍ ده ډهولګوله، د لښکر یوه برخه یې د زمان شاه د پـَل د نیولو لپاره په شاه زمان پسې‌ولیږله. د شاه محمود د لښکر د مخکښ او د شاه زمان د څواک ترمنځ د جګدلک د " وچې‌پاڼې" په سیمې کې لنډه نښته را پیښ شوه او څرګنده ده چې پایله یې د شاه محمود پهګټه وواښتله او د زمان شاه پوځي څواک هر لور ته خور او وور شو او وتښتېد. زمان شاهله خپلو څو تنو ملګرو سره په لا لهاندې ځانته پټنځای لټاوه. ملا عاشق شینواري لهوفادارخان سره له پخوا پیژندګلوي درلودله او د جګدلک په سیمې کې د یوې کلا څښتن وو .بدمرغه پاچا دومره خوار شوی وو چې د لا لهاندۍ په نړۍ کې دې ته اړ شو چې د یوې شپې‌لپاره د ملاعاشق کلا ته پناه یوسي. ملا عاشق لومړی په ورین تندي خپل میلمه په غیږکې ونیو، خو کله چې خبرشو چې شاه محمود د کابل د واکمنۍ پر ګدۍ ده ډه لګولې ده نو دشاه زمان نیولو ته یې ملا را وتړله، هغه و بیریده چې سبا ورځ به شاه زمان ته د پناهورکولو په تور د نوي پاچا د خوابدۍ او قهر تر مـَـتروکو لاندې ونیول شي، نو د کلادروازه یې د شاه له لورې وتړله او د شپې په اوږدو کې یې د خپلو زامنو له لارې شاهمحمود ته پیغام ولیږه چې یو څوک دې ور ولیږي او خپل بندي دې دده له کلا را واخلي) .۱۳ .(

وزیر فتح خان ۱۹ کلن وو چې د خپل پلار سردار پایندهخان له وژل کېدلو وروسته د سیاست پر نړۍ یې پښه کښېښودله او کله چې وژل کېده، ۳۸کلن وو. په دغې شمیرنې وزیرفتح خان ۱۹ کاله د هیواد د لیکو د ټینګولو، پرمختګ اوپرتم لپاره په سربښندې هلې ځلې وکړې. هغه په ټول هېواد کې ټیکاو (امنیت) رامنځته کړاو د لیرې پرتو ولایتونو لکه : بلوڅستان، سندهـ، کشمیر او هرات والیان یې مرکزیدولت ته غاړې ټیټونې ته اړ کړل چې له مالیاتي ګټو څخه دې د هېواد مرکزته ولایتیونده واستوي .

زمان شاه او ملګري یې په لنډ وخت کې پوه شول چې د ملاعاشقپه منګولو کې یرغمل دي. که څه هم شاه زمان او ملګرو یې هڅه وکړه چې د خپل ځان دژغورنې لپاره لاره چاره ولټوي، خو بریالي نه شول. بیا یې ځانونه برخلېک ته وسپارلاو د هرډول رامنځته کېدونکې پېښې لپاره یې لارې څارلې. کله چې ددغسې نابیرې پېښې‌خبر کابل او پیښاور ته ورسید، له یوې خوا شاه محمود د خپل سیال د نیولو لپاره متېړرا بډ وهلې وې او له بله اړخه شاه شجاع د خپل ورور د ژغورنې لپاره لاس په کار شو .له کابله د وزیر فتح خان ورور نواب اسد خان له یوه جراح سره راوخوځېد او له پیښاورهعبدالکریم خان د بندي پاچا د ژغورلو لپاره را ودانګل. له دې چې د کابل او جګدلک ترمنځ واټن لږ وو، نو نواب اسد خان له ټولو مخکې کلا ته را ورسید. زمانشاه د پاچاهۍ دپانګې ټول سره زر چې په هغه کې د کوه نور الماس هم وو د کلا په یوه سوري کې پټ کړلاو فخراج [ د یوه یاقوت نوم وو] یې د کلا ترڅنګ یوې ویالې ته غوزار کړ. سپیدې لا نهوې چاودلې چې نواب اسد خان کلا ته را ورسید او پا چا یې ونیو او د شاه محمود په امریې د زمان شاه سترګې ور ړندې کړې او وروسته یې پاچا د هغه له نورو ملګرو سره کابلته راووست. شاه زمان د کابل پرزندان ننوت او د هغه وزیر او ورور یې د کابل واکمنمحمد خان د سردارپاینده خان په غچ کې اعدام شول او زمان خان پوپلزی د حاضر خان دوژنې په توراعدام شو. حاضر خان د اکرم خان زوی وو چې په هرات کې د زمان خان پوپلزیپه امر اعدام شوی وو. (۱۴ .(

دغه پیښه په تأریخ کې د ۱۸۰۱زکال د جولای پهمې‌اشت کې لیکل شوې. (۱۵).درې کاله وروسته د شاه محمود د پاچاهۍ لومړی پړاو) ۱۸۰۳زکال) د زمان شاه د ورور (د میرې زوی) له پلوه پای ته ورسېد، شاه شجاع لومړنیکار چې وکړ ملا عشق شینواري ته یې سزا ورکړه، هغه یې راووست او له ستوني یې و ځړاوهاو د کوه نور الماس چې تردغه دمه د ملا عاشق په کلا کې پټ ول د شاه شجاع لاس تهولوېد او کلا ونړول شوه ۱۶) .(

ډیر وخت تیر نه شو چې شاه شجاع د لښکر راټولوته ملا وتړله او د پیسو په ورکړه یې لس زره سرتیري برابر کړل چې کابل ته د خوځې‌دالپاره چمتو ول. کله چې شاه محمود له دغې پیښې خبر شو نو وزیر فتح خان او شهزادګیکامران یې د یوه درې زر کسیز لښکر په مشرۍ کې د هغه د مخنیوي لپاره ور ولیږل. دواړهلښکرې جلال آباد ته نیږدې د سُرخرود په سیمه کې له یوه بل سره مخامخ شوې. د شاهشجاع سرتیرو ګومان کاوه چې ددوی شمیره د شاه محمود د سرتیرو په پرتله ډیره ده نومخکې له مخکې یې ځانونه سوبمن بلل او په لومړي سر کې یې د شجاع پر پانګې چې لهپیښاوره یې له ځان سره راوړې وه برید وکړ او ویې غوښتل چې لومړي خپل پاچا لوټ کړي .وزیر فتح خان د شاه شاع د لښکر پر دغې په خپل سرۍ او ګډوډۍ پوه شو اوله همدغسې شیبې‌څخه په ګټه اخیستنې خپل لښکر ته یې بولنده ورکړه چې د شاه شجاع پر ګډو وډو جنګیالیویرغل ور وړي. د دښمن د لښکر لېکې د سترګو په رپ کې ماتې شوې او شاه شجاع د خپل ځاند بچونې په سوچ کې ولوید او د سیمې نیږدې غرونو ته یې پناه یو وړه، او د هغه وسلې‌او پانګه د فتح خان د لښکر لاس ته ورغله. وزیر فتح خان د شاه شجاع له پانګې څخه ترلاسه شوې پیسې د خپلو جنګیالیو په منځو کې وویشلې او بیا یې د پیښاور د نیولو لپارهخپل پرمختګ ته دوام ورکړ. په لنډې مودې کې د پیښاور دروازې د لښکر پرمخ پرانیستلشوې او وزیر فتح خان له څیرمو سیمو څخه د مالېې راټولولو ته ملا وتړله.

دوزیر فتح خان همدغه هوښیارې، پوهه او زړورتیا ده چې انګلیسي تأریخپوه نومورړی د " محمودي څواک نابغه" بولي او د هغه له میرانې، هوښیارۍ، پوخوالي او ننګلیالیتوبه هرچیرې خبرې کوي. (۱۷ .(

د پرګنو اله ګوله :

کله چې وزیر فتح خان پهپیښاور کې وو، له کلاته ترزابله او له زابله تر لوګره میشتو غلزیو په اله ګولې لاسپورې کړ. لومړی یې عبدالرحیم خان چې یو آرام او بې پرې سړی وو د خپل پاچا په توګهوټاکه او بیا یوې ډلې د شهاب الدین خان توخي تر مشرۍ لاندې پر کندهار برید وکړ. دوزیر فتح خان د تره زوی عبدالحنان خان بارکزي او سیدالخان الکوزي سره له دې چې دښار ډیر ساتونکي یې نه درلودل، د ښار د ساتلو لپاره ملا را وترله او د کندهار د پلسنګی په سیمه کې د دواړو خواوو ترمنځ نښته راپیښ شوه او له درانیو څخه دوه سوه تنهاو له اله ګوله کوونکو څخه زر تنه ووژل شول او اله ګوله کوونکي اړشول چې په شاي) ۱۸. (

یو شمیرنورو چې د عبدالرحیم خان غلزي تر مشرۍ لاندې یې پاڅون کړی وود غزني په لور پرمخ ولاړل. د خپلې لارې په اوږدو کې یې کورونه ، باندې او کلي اوکلا ګانې لوټ کړې او د غزني پرښار یې برېد وکړ خو د غزني ښار له ځانه دفاع وکړه اوپاڅونوال اړ شول چې د شلګرې او زرملې له لارې بیرته لوګرته په شا شي. د لارې پهاوږدو کې ګڼ شمیر غلزي له هغوی سره ځای شول او ویل شوي چې شمیره یې شل زره تنو تهرسیدله. شاه محمود په ډیرو ستونزو درې زره تنه د جګړې لپاره چمتو کړل او بیا یې د) شاه ولیخان بامیزي، د احمدشاه دراني سروزیر) زوی شیرمحمد خان مختارالدوله یې لهبند څخه خلاص کړ(۱۹) او نوموړی یې د اله ګوله ؤونکو د ټکـَوني لپاره ولیږه. دغهپوه سړي وکولای شول اله ګوله کوونکي له پښو وغورځوي، دهغوی درې زره تنه یې ور ووژلاو د شاه محمود په امر یې د هغوی له ککرو څخه د بلخ غونډۍ ته نیږدې مناروښه جوړکړل. (۲۰ .(

د ۱۸۰۲ زکال په مارچ کې له کلاته نیولې تر جلال آباده پورېمیشتو غلزیو بیا اله ګولې ته لاس واچاوه او په پام کې یې نېولي ول له درې خوا خواوویعنی له لویدېځ، سویل او سویل ختیځه پرکابل یرغل راوړي. د اله ګوله چیان شمیرپینځوس زره اټکل شوی وو.(۲۱). وزیر فتح خان او شهزادګي کامران په بیړه له پیښاورهکابل خواته مخه کړه او د وزیرفتح خان د تره زوی عبدالواحد په خپل ټول ځواک د کابل داله ګوله چیانو په شا تمبولو ته را ودانګل. وزیرفتح خان په خپله د غلزیو د توکم دجبارخیلو او احمدزیو د ټبرونو د جنګیالیو په شا تمبولو ته چې مشري یې محمد خانبابکرخیل کوله او شمیر یې لسو زرو ته رسیده راووت، او هغوی ته یې ټینګه ماته ور پهبرخه کړه او بیا وزیرد عبدالرحیم خان تر مشرۍ لاندې دویمې ډلې ته پام کړ چې غوښتلیې له ختیځه پرکابل یرغل راوړي. عبدالرحیم خان له لسو زرو جنګیالیو سره د وزیر فتحخان مخې ته راودانګل (۱۸۰۲ ز کال د مي دمې‌اشتې ۱۱). په دغې جګړې کې وزیر بیا پرخپلو مخالفینو لاس بری شو، عبدالرحیم سره له دوه زامنو یې ونیول شو او بیا اعدامشول (۲۲ .(

دا د ۲۲ کلن ځوان وزیر فتح خان پینځمه بریالۍ جګړه وه. د دریمې‌ډلې د ټکولو لپاره شیرمحمد خان او احمد خان نورزی ګورمال شوي ول چې د کندهار او دهغه د ورځیرمو سیمو خوندیتوب ژوندی وساتي. د لښکر دغو دوه وو مشرانو د خپلې لارې داوږدو په دواړو غاړو کې د غلزیو ټولې کلا ګانې ویجاړې او له خارو سره یې یو کړې، دغزني، کلات او کندهار ترمنځ امینت یې راتینګ کړ او بیرته کابل ته راستانه شول (۲۳ .(

کله چې شاه محمود خپل ټول پام د کابل د ځیرمو سیمو امینت ته را اړولی وو،شاه شجاع د خیبر وګړي د پیسو او سوغاتونو په بدل کې را وهڅول او یو ۱۲ زریز لښکر یې‌جوړ کړ او پر پیښاور یې یرغل ور ووړو خو د پیښاور ساتونکو د هغه ګڼ شمیر جنګیالي لهپښو ورغورځول او شاه په تیښته ولاړ. په هماغه کال د آمو د سیند د بلې غاړې وزبکوپربلخ برید وکړ خو د بلخ په ورځیرمو سیمو کې د وزیرفتح خان د لیږل شوي ځواک له پلوهیې ماته وخوړله او دې ته اړ شول چې د آمو د سیند بلې غاړې ته بیرته په شا شي (۲۴ .(

## له کابله د وزیر فتح خان لیرې کېدل او د شاه محمودپرځېدنه :

، وزیرفتح خان پرله پسې بریاوې د شاه محمود د دربار پر یوه نیږدې اومخـَور اکرم خان الکوزي ډیرې درندې پریوتلې او له وزیر فتح خان سره یې تربګنۍ تهملا وترله. وروسته پریکړه وشوه چې محمد اکرم خان دې په کابل کې پاتې شي او وزیر فتحخان دې پیښاور ته ولاړشي. وزیر فتح خان بیا پیښاور ته ولاړ او د هغه ځای له پرګنوڅخه یې د خپل لښکر د لګښتونو لپاره مالیه را ټوله کړه. د کشمیر واکمن هغه ته پینځوسزره روپۍ ولیږلې او بیا فتح خان د کوهاټ، بنو او دامان په لور ودرومل او له هغوځایونو څخه یې هم مالیه را ټوله کړه او بیا یې د وزیرستان د نیولو لپاره تکل وکړ .کله چې وزیرستان ونیول شو، د ۱۸۰۳زکال اوړی وو چې کندهار ته راستون شو. (۲۵). وزیر،کندهار ته د راستنیدلو په لار کې خبر شو چې شهزادګی قیصر د ایرانیانو په مرسته پرکندهار د برېد تکل لري او کندهار د کامران میرزا په لاس کې وو. نو له دې امله یې‌ځان په بیړه کندهار ته را ورساوه او له شهزادګي کامران سره یو ځای یې د شهزادګیقیصر په تمبولو پیل وکړ. د دواړو خواوو ترمنځ په کوکران کې ډیره کلکه خونړۍ جګړ هونښتله اوپه پای کې قیصر ماته وخوړله. د قیصر د لښکر بولندوی اکرم خان په دغې جګړېکې ووژل شو، قصیر ونیول شو او کابل ته یې را ولیږه. څه موده وروسته وزیرفتح خان لهخپل ورور دوست محمد خان سره کابل ته راغی. شاه شجاع کابل ته د فتح خان له ورتګ څخهپه ګټه اخیستنې چې ډګرېې تش ګڼلی وو، بیا یې پر کندهار برېد وکړ خو وزیر فتح خان لهخپل ورور سره یوځای د کامران ملاتړ ته را ودانګل او یو ځل بیا یې شاه شجاع ته ماتهورکړه او شاه شجاع بیرته پیښاور ته وتښتید. په دغه ځای کې وزیر فتح خان د غفورخانبارکزي، سیدالخان لکوزي او خواجه محمد خان سدوزي پر پالیالۍ او صداقت کې شـَکي شواو هغوی یې زندان ته ولیږل (۲۶). شاه محمود د وزیر فتح خان د تورې او پوهې تر سیوریلاندې د درو کالو لپاره په بالا حصار کې واکمني وچلوله خو له دې چې نوموړي چړچهمار، آرام خوښی او پرځان بې ډاډه سړی وو، وګړي د وزیر فتح خان په نشتوالي کې د هغهپر وړاندې راپاڅیدل او شاه شجاع یې د پاچۍ پرګدۍ کښېناوه (۱۸۰۳زکال ، جولای (

## د میرواعظ وندہ :

، شاه محمود په ماته کېمختارالدوله شیرمحمد چې یوه له مخـَور روحاني سیداحمد سره یې لاس یو کړی وو او دمیرواعظ په نامه پیژندل کیده، پخه وندہ درلودله. میرواعظ څو څو ځله د حج په سفرتللی وو او د کابل په وګړوکې یې د یوه پاک لمني په توګه دروند نوم درلود او دسنیانو په منځ کې یې ډیره پیاوړې اغیزه درلودله او په رښا ورځ به یې پر پاچا ګوتنیوني کولې او له هغه یې ویره نه درلودله. هغه وګړو ته ویل چې پاچا له قزلباشانوڅخه ملاتړ کوي اوله سنیانو څخه نه یوازې کرکه لري بلکه هغوی سپکوي. په دې ډول ورځپه ورځ د پاچا پر وړاندې د ولس کرکه راپارېدله او خبره دې کچې ته را لوړه شوه چې دسنیانو او شیعه ګانو ترمنځ نښتې او جګړې وشوې .

د تأریخ سلطاني لیکوال لیکیچې : یوه قزلباش، یو سني مذهبه تنکی ځوان خپل کورته مېلمه او بیا یې له هغه سرهلواطت کړی وو، وروسته له هغه چې دغه تنکی ځوان خپل کورته را ستنیږي، دغه پیښه خپلېکورنی ته وایي. د ځوان هلک پلرګنی شاه محمود ته د مرتـَکوني لپاره ورځي او پاچاپیښه د ښار قاضي ته ور سپاري. قاضي د جرم د زباد لپاره شاهدان غوښتل او دا کار دمدعي لپاره نا شونی وو، د هلک پلرګنی د جمعې په ورځ د پل خشتي جومات ته ور غله، خپلګریوانونه یې وڅیرل او له هغه یې د مرستې غوښتنه وکړ ه. میرواعظ امر وکړ چې دقزلباشانو پر کورنو دې یرغل وروړي او هر یو دې ووژني. خلک د پل خشتي له جوماتهوخوځېدل او پرچنداول چې د قزلباشانو استوګنځای وو ورغلل او د چنداول په لارو اوکوڅو کې چې هرڅوک یې مخې ته ورتلل په تورو، چړو او سوټیو وهل او وژل یې او کورونوته یې اور اچاوه. (۲۷ ).

خو الفنستون په ۱۸۰۹زکال کې داسې لیکي: د قزلباشانوپه لاس په رڼا ورځ د یوه تنکي کابلي ځوان وژنې، د وګړو خوابدی ته لا اوړه ورکړه .هغوی د وژل شوي هلک مړی د یوه شیهد په توګه بدرګه کاوه چې د مړي پر بدرګې دقزلباشانو یوې ډلې ډزې وکړې او دغه سپکاوي د وګړو ډیره ترخه کرکه را و پاروله او دپاچا د مرییو (قزلباشانو) په نشتوالي چې د پاچا په چوپړ کې ول، د قزلباشانوپراستوګنځیو یې برېد وکړ او هغوی یې له لږ مقاومت وروسته لوټ کړل. په سبا ورځ یېجګړه لا توده شوه. د کابل له نورو ورڅیرمو سیمو څخه خلک د سنیانو مرستې ته راودانګل او د همدغو پیرانو له ډلې څخه د یوه تر مشری لاندې د کوهستان ګڼ شمیرتوپکوال په همدغې موخې پر کابل را مات شول. په دغه اله ګوله کې مختارالدوله او ددرانیو نورو مشرانو په برالا خلک هڅول چې جګړې ته را ودانګي. میرواعظ خلکو ته د جنتژمنې کولې او د مشرانو پر مخونو یې سپیڅلې اوبه (زمزم) شیندلې او سنیان یې جګړې تهرابلل. خو د جګړې دواړه خواووې د کابل د تود او سوځوونکي اوړي له امله سترې ستومانهشوې او لنډ مهاله اوربند ته یې غاړه کښېښودله. دغه خونړی نښته د ۱۸۰۳زکال د جون دمېاشتې په ۴ او ۵ نېټه ( د غبرګولې د مېاشتې په نیماییو کې) رامنځ ته شوه. پاچا دوزیر فتح خان را رسیدا ته چې له کندهاره له لښکر سره د کابل پر لور را خوځېدلې وو،ته سترګې په لاره وو او مختارالدوله شاه شجاع ته سترګې څارلې چې هغه یې د پاچاهۍ دګدۍ نیولو ته رابللی وو(۲۸ ).

د غبرګولې د مېاشتې پر ۱۵ نېټې کابل ته د وزیرفتح خان له رسیدا سره سم د دواړو خواوو ترمنځ سوله وشوه او اور مړ شو. د سراجالتواریخ لیکوال ګروهن دی چې " کله چې قزلباشان د ورکېدا څنډې ته نیږدې شول،وزیرفتح خان له خپلو ورونو سره د پاچاهۍ د ساتلو او د راپورته شوي سرخوړاوي آوپیلات "فساد " د له منځه وړلولپاره ملا وتړله، او د دواړو ډلو پر وړاندې یې خپلېتورې را وایستلې او د تورې او مټ په زور یې د پیلات اور مړ کړ او قزلباشان یې دګواښ له لومو وژغورل. " (۲۹(

شاه محمود غوښتل مختارالدوله ونیسي خو هغه لهښاره وتښتېد (۱۸۰۳زکال ، جولای) مګر میرواعظ ته یې لارښوونه وکړه چې یو ځل بیا دپاله ګوله را وپاروي او میرواعظ همداسې وکړل او همدا چې فتح خان د مالیې د را ټولولپاره له کابله د بامیان پر لور دباندې ووت، یو ځل بیا کابل د اله ګولې په لمبو کېراښکېل شو او پینځه ورځې وروسته (۱۸۰۳زکال د جولای ۱۳) له شاه شجاع سره یو ځای پرکابل را ننوت. (۳۰(

کله چې وزیرفتح خان له بامیان او دایکنډي څخه د کابل پرلور را درومل او د کابل د ښار(څلور مایلې واټن) قلعه قاضي ته را ورسېد، د شاه شجاعله ځواکونو سره مخامخ شو. خونړې او زړه بوږنوونکې جګړه را پیل شوه چې له سهاره ترماښامه وغځېده اوداسې برېښېدله چې سوبه او بریا د وزیرفتح خان او د هغه د لښکر پرخوا ده، ځکه هغه داسې لښکر ته ماتې ورکړې وه چې پرهغه یې نیغ پر نیغه را دانګلي ولاو د کابل پر لور راوخوځېد خو په همدغه شیبه کې د فتح خان د لښکر یوه مشر د شاهشجاع په ملاتړ له خپل مورچله شاه شجاع ته مخه کړه او د وزیر فتح خان تر شا لښکر لهسربدالی سره مخامخ شو. وزیر هم چې د خپل افسر درغلنی او خیانت ته پام وکړ نو لهخپلو ورونو او یو شمیر هملارو سره دې ته اړ شو چې توره را وباسي او د تورې په زور ددښمن لیکي ورماتې او د کندهار پر لور وخوځېږي. (۳۱ ).
د وزیر فتح خان په نشتوالیکې په پیښاور او کندهار کې پرګنې دومره له پاچا څخه کرکجنې شوې وې چې د پاچا چاپیرهله څو تنو وخت پیژندونکو ځانپالو او له لارې وتلو کسانو پرته، نور هیڅ چا ورڅخه ښهزړه نه درلود. له دې امله وګړو شاه شجاع په شور او زوږ د پاچاهۍ پر ګدۍ کښېناوه اومختارالدوله شیر محمد خان یې د هغه د وزیر په توګه غوره کړ. شاه محمود زنداني شو اوشاه شجاع پریکړه کړې وه چې شاه محمود د شاه زمان د ړندولو په جرم، ړوند کړي خو شاهمحمود قران را مخ ته کړ او له پاچا یې بخښنه

وغوښتله. شاه شجاع د مختارالدوله پهمنځګړیتوب له دغه کاره لاس پرسر شو او د کابل په بالا حصار کې یې د هغه پر بندیکېدلو بسنه وکړه (۳۲ .)

## شاه شجاع ، د کابل د واکمنۍ پر ګدۍ :

وروسته لهډیرو کړانوونو، جګړو او ماتو، شاه شجاع د لومړي ځل لپاره د کابل د واکمنۍ پر ګدۍ ډهډه ووهله اوتر شپړو کالو له ۱۸۰۳زتر ۱۸۰۹ز کلونو پورې یې پاچاهي وکړه. د هغه لومړنیګام د ملاعاشق شینواري او دهغه د نیږدې خپلوانو او انډیوالانو نیول ول. شاه شجاعملا عاشق اعدام کړ او بیا د کوه نور د الماسو د تر لاسه کولو لپاره یې د ملا عاشقکلا را ونړوله او الماس یې وموند. د فتح خان ورور نواب اسد خان یې چې د زمانشاه دنیولو دنده یې په غاړه درلودله، بندي کړ. خو د شاه شجاع د وزیر مختارالدوله شیرمحمدخان لومړنی کار دا وو چې له شاه غوښتنه وکړي چې نواب اسد خان له بنده راخلاص کړي .دهغه غوښتنه ومنل شوه او نواب اسد خان د وزیر له پلوه په ډیر درنښت اودرناوي وپاللشو. وزیر غوښتل د بارکزیو او سدوزیو د دوه وو سترو ټبرونو ترمنځ د کېنې پراور د پایتکی کښیږدي او دښمني ورکه کړي نو په همدې هڅلې یې د دوست محمد خان خور (وفا بیګم) دشاه شجاع په نکاح کې راوستله. خپلوي رامنځته شوه او بیا پاچا له نواب اسد خان اودوزیرخان خان له بل ورور ګل محمد خان څخه وغوښتل چې کندهار ته ولاړ شي اووزیر فتحخان دې کابل ته راولي او هغه ته دې ووایي چې د خپل پلار په شان به ده ته د شاه شجاعپه دربار کې په درنښت کتل کیږي.

په دغې ډلې کې شهزادګي حیدر، احمدخان نورزي اوعطامحمد خان بارکزي هم ګډون درلود او د وزیرفتح خان د ډاډینې لپاره شاه شجاع یوژمنلیک هم ولېکله او د پلاوي په لاس یې ور ولیږه .

کله چې پلاوی په کندهار کېفتح خان ته ورسید او د شاه شجاع د درنښت او هیلوسلامونه یې فتح خان ته وړاندې کړلنو هغه هم کابل ته مخه کړه او د کابل پر لور راوخوځېد خو کامران میراز د وزیر فتحخان دغه ګام د اړیکو د پریکون په تو ګه وګانه او د هرات پر لور وتښتېد او د هغهپرځای د زمانشاه زوی قیصر د کندهار د واکمن په توګه وټاکل شو(۳۳ .)

کله چېوزیر شیر محمد خان واورېدل چې وزیرفتح خان د کابل په تکل را خوځېدلی نو ترغزني دهغه مخې ته د ښه راغلاست لپاره ورغی او په ډیر تود هرکلي یې وزیر فتح خان کابل ته ،د پاچا دربار ته راووست. خو شاه شجاع له خپلې کړې ژمنې پښېمانه او له ژبې واوښت .شاه شجاع هغه مهال له خپلې ژبې اوړي کله چې ګوري فتح خان له وزیر شیرمحمد خان سرهپه یوه کور کې ژوند کوي. د شاه شجاع بل وزیر اکرم خان پاچا ته وړاندېزکوي چې پیښاورته ولاړ شي او شیر محمد خان او فتح خان دې هم له ځان سره بوزي او هلته دې بندیانکړی چې له سرخوږاوي څخه یې خلاص شي. شاه شجاع دغه وړاندیز ومانه او لاربنوونه یېورکړه چې د پیښاور د تګ تابیا دې ونیول شي. خو شیرمحمد له هر سوري چې خبر شوی وو،خبر وو چې پاچا ورته څه په پام کې نیولي دي او دغه خبره یې له فتح خان سره ګډه کړهاو بیاپریکړه وشوه چې فتح خان دې پلمه جوړه کړي او په کابل کې دې پاتې شي او ددېلپاره چې پاچا شکمن نه شي نو شیرمحمد خان به له شاه شجاع سره پیښاور ته ولاړ شي .شیر محمد خان له فتح خان سره ژمنه وکړه چې د وزیر فتح خان دوست دده دوست او دښمن یېدده دښمن دی او هر کله به په هر چاره کې له یو بل څخه سلا اخلي او د دښمنانو پهوړاندې به په ګډه جنګیږېږي. بیا یې وزیر فتح خان ته اویا زره روپۍ ورکړې چې د خپلوموخو د پلي کولو په لاره کې یې د اړتیا پر مهال خرڅې کړي. خو کله چې شاه شجاع تیزینته ورسید او د خپل وزیر له دروهې "دسیسې" څخه خبر شو چې ښایي د وزیر فتح خان لهپلوه پلي شي نو شاه په بیره د خپلو سرتیرو یوه ډله کابل ته را ولیږله چې فتح خان دېسره له نورو سردارانو په بندي توګه پیښاور ته راولي. کله چې فتح خان د پاچا له دغهګام څخه خبر شو نو د سترګو په رپ کې یې بندي سرداران له زندانه راخلاص کړل او لههغوی سره یو ځای د لوګر له لارې د کندهار پر لور وخوځېد. (۳۴ .)

نوموړی وزیردشپې په نیماییو کې کندهار ته ورسید او کله چې د ښار دروازې یې تړلي ولېدلې، ددروازې ساتکونو ته یې بډې ورکړې اوهغوی ورسره ومنله چې د شهزاده قصیر له خواجه سرای ' آغا ادراک" سره وګوري. خواجه سرای په بیړه قیصر ته ورغی او له خپلې کتنې څخه یېقیصر ته کیسه وکړه او له هغه یې وغوښتل چې د کابل د واکمنۍ د ګدۍ په نیولو کې ورسرهمرسته وکړي. شهزادګی ددغه په زړه پورې خبرپه اورېدلو د فتح خان مخې ته د ښه راغلاستلپاره ورغی او له هغه سره یې ولېدل. وزیر فتح خان له قیصر سره په دې آړ یا شرط ژمنهوکړه چې له احمد خان نورزي څخه دې لاس پر سي او ژمنه دې و سپارې چې د خپلې وینې تروروستۍ څاڅکې پورې به د شهزادګي په ګټه جګړه وکړي او که شهزادګی د مرستې له ورکړېډه ډه وکړي نو دی به له کامران میرزا سره یوځای شي. شهزادګی قیصر له دغې ژمنې ډیرخوښ شو. بیا فتح خان امر وکړچې د دوست محمد خان تر مشرۍ لاندې دې دوه زره سرتیریچمتوکړي او احمد خان دې ونیسي. احمدخان د خوب پرتلتک تر برستنې لاندې بیده وو چېکور یې لکلا بند شو اولاس اوپښې تړلی او په څښېدلو څښېدلو یې قیصر ته راووست. کلهچې د احمد خان سترګې پر وزیر فتح خان ولګېدلې پوه شو چې له وزیر سره د ماتې کړل شوبژمنې اوژبې په سزا له هغه څخه غچ اخیستل کیږي. احمد خان د قیصر زندان ته ولوید اوپه سبا سهار چې سرلارانو او خانانو د قیصر تر څنګ له ټولو نیږدې فتح خان ولید نو پهخپلو ځانونو وډار شول او له هرې لارې چې ورته شونې ول قیصر یې له وزیر فتح خان سرهله یو ځای کیدنې وډار کړ او هغه یې و هڅاوه چې وزیر فتح خان ونیسي. قیصر هم خپلهکړې ژمنه هیره کړه او پلان یې جوړ کړ او فتح خان ته یې وویل چې خانان غواړي په یوهښ کې ستا مېلمانه شي خو تر څنګ یې د هغو د نیولو تابیا ونېوله. فتح خان چې د قیصرپه کړو وړو شکمن شوی وو د میلمستیا د چمتووالي لپاره یې دوه ورځې وغوښتلې او له دغهځنډ څخه د هغه موخه دا وه چې د ځان او د خپلو ورونو د ژغورنې لپاره لاره وپلټي. لهدې امله سردار دوست محمد خان ته

يې دنده وسپارله چې ښه تکړه ساتونکي دې برابر کړياو د هغه ترڅنګ د ميلمستيا چارې دې په خپل لاس کې واخلي. دوست محمدخان هم د ښه خرپاو درب ميلمستيا تابيا په لاس کې ونيوله او ځان يې له سره تر پښو په وسلوسمبال کړاو د پينځه سوه وسله والو په سر کې ودريد او د شهزادګي قيصر تر سترګو لاندې يې مېلمنو ته ښه راغلاست وويل. د هغه همدغه هوښياري او ويښتوب بس وو چې شهزادګی قيصرپوه کړي چې هغوی د هر ډول پيښې د رامنځته کېدلو لپار بشپړ چمتووالی لري. له دې املهشهزادګی او د هغه ملګرو وزير فتح خان ته داسې څرګنده کړه چې د احمد خان نورزي دخلاصون په بدل کې دې ورته سل زره روپۍ ورکړي. فتح خان دغه وړانديز ومانه او بيا دخانانو د يوه وړانديز پر بنسټ د بندي احمد خان يوه لور قيصر ته ور په نکاح کړه اواحمد خان له زندانه را خلاص شو او يو ځل بيا د کندهار د ښار د ساتنې پر دندې وګومارل شو .

له هغه وروسته شهزادګی قيصر، فتح خان ، دوست محمد خان، خواجهمحمد خان او عطا محمد خان نورزی له خپلو لښکرو سره د کابل پر لور را وخوځېدل، خوکله چې کلات غلزائـي ته را ورسيدل، عطا محمد خان نورزی له يو شمير نورو خانانو سرهبيرته کندهار ته را ستانه شول خو فتح خان له دغه بيلتون او ژمنې ماتېدنې څخه ونهبيرېده او د کابل پر لور خپل پرمختګ ته يې دوام ورکړ. پر دغه مهال شاه شجاع لهپيښاوره بيرته راستون شوی وو او د کابل په قلعه قاضي کې يې د کندهار د لښکر لارهڅارله. کله چې فتح خان د توپ کلا ته راورسيد د شپې په نيمايي کې د فيض الله خانپوپلزي په نامه يو بل ځمکوال سره له خپلو پينځه زره تنو جنګياليو د فتح خان لهلښکره جلا او له شاه شجاع سره يو ځای شو. دغې پيښې د فتح خان پر را ديره شوي لښکربده اغيزه وکړه او د خپل ورور دوست محمد خان په سلا يې پريکړه وکړه چې بيرته کندهارته ستون شي. خو کله چې ښار ته نيږدې شو، ورته خبر راورسيد چې کامران ميرزا پرښارمنګولې ښخې کړې او ښارېې په لاس کې دی، له دې امله فتح خان بيرته کامران ته ورغی .کامران يا دليونتوب يا د ناپوهې او يا د کينې له مخې د فتح خان او د هغه د ورونو پهسپکاوي پيل وکړ. دغه چال چلند فتح خان خوا بدی کړ او فتح خان د قيصر په ګټه له خپلېوړتيا څخه کار واخيست او دوې مېاشتې وروسته ، فتح خان ، کامران ميراز دې ته اړ کړچې له ښاره وتښتي او د هغه پر ځای يې قيصر د ښار واکمن کړ .

لږ وخت وروستهشاه شجاع د يوه ځواک په مشرۍ د کندهار پر لور را وخوځېد او کله چې د چشمه شادي کليته را ورسيد، فتح خان او ورونه يې فراه ته وتښتېدل، قيصر لومړی په ډ َهلې ( ډاله (کې او له هغه ځايه په مرکزي غرونو کې پټ شو. شاه شجاع د کندهار ښار ته راغی او ډېرههڅه يې وکړه چې قيصر ونيسي، خو ګوتو ته ورنغی. په پای کې شاه شجاع له بارکزيو ورونوسره سوله غوره وبلله او فتح خان او ورونو ته يې پيغام ولېږه چې له هغه سره يوځايشي. فتح خان او دوست محمد خان بيرته کندهار ته را ستانه شول اوله هغه ځايه يې دپيښاور د ياغيانو د ټکولو په موخه د پيښاور په لور په خوځېدا پيل وکړ. د ۱۸۰۵زکالپه اپريل کې پاچا پيښاور ته را ورسيد او په ديره غازي خان کې يې ميرعلم خان لهواکمنۍ لاندې را غوځار کړ او د هغه پر ځای يې عطا محمد خان نورزی وټاکه. فتح خان دپاچا مخه ونيوله چې دغه کار دې ونه کړي خو پاچا ونه منله. د پاچا دغه کار بارکزيورونه خوا بدي کړل او هغوی د هرات پر لور را وخوځېدل. د هرات والي حاجي فيروزالدينومره خپګه نه درلودله چې د کابل د پاچاهۍ د ګدۍ لپاره ملا را وتړي، له دې امله فتحخان او ورور يې دوست محمد خان يو ځل بيا کندهار ته ، قيصر ته ورغلل. (۳۵ .(

## د شاه زمان په دروهې ، د فتح خان بندي کېدل :

داځل وزير فتح خان او دوست محمد خان د قيصر په دربار کې د خواجه محمد او ميرعلم خانله پلوه سپک شول.لامل يې دا وو چې قيصر ته د خپل پلار زمانشاه له پلوه دنده ورسپارلشوې وه چې فتح خان او ورونه يې له منځه يوسي. د زمانشاه موخه دا وه چې يو پلمه رامنځ ته شي او په ترڅ کې يې فتح خان منګولو ته ورسي. وروسته زمانشاه ميرعلم خان اوشهنواز اڅکزي ته دنده وسپارله چې فتح خان ته دې ووايي چې پاچا او شهزادګی غواړي دهغه مېلمانه شي، خو دوست محمد له هغوی هم چابک وو او د پاچا په پلان خبرشوی وو .دواړه ورڼه په دې بريالي شول چې ددغې له چل او درغلنې ډکې ميلمستيا د بدګومانۍاړخونه پټ کړي او څرګنده يې کړه چې هغوی به د پاچا له دغې پاملرنې خورا زيات خوښشي. بيا نو دغو ورونو درې اړخيزه تياری ونيو.يو اړخ دواړو (فتح خان او دوست محمدخان) ته سپارل کېده. دويم اړخ نواب اسد خان ته ، دريم اړخ محمد عظيم خان ته وسپارلشو. فتح خان د ملېمستيا تياری د مرجان په ښايسته بڼ کې ونېو. دوست محمد د فتح خان دسانتې دنده په خپله غاړه واخيستله. له دې امله د ګارد او د ځواک د را ټولولو په لټهکې شو او په همدې حالت کې د نابلل شويو ميلمنو هرخوځښت يې تر څارلاندې ونيو. هغه پهدغې ميلمستيا کې له دومره ځيروالي او احتياط څخه کارواخيست چې د شهزادګي قيصر اوزمانشاه زړه ډاډه اوپوره شو چې ګڼې ددوی راز چا بربنډ کړی دی. له دې امله له هرېهغې هڅې څخه لاس پر سر شول چې ددغو دواړو ورڼو لپاره په پام کې نيول شوې وې او داسېيې وښودله چې د هغوی په دوستۍ او ملګرتوب کې د يو بڅرکی په اندازه چاوده نشته. لهدې امله ګوښه شوي پاچا هغوی ته د پاچاهۍ سوغاتونه ورکړل اوناکامه او په زړه خوړينبيرته ستانه شول، خو زمانشاه او قيصر د بلې لارې په لټه کې راووتل .

د هماغېورځې پر بل سهار امر وشو چې هېڅ څوک مانۍ ته له پينځو تنو زيات نه شي راوستلای، خوله دې سره سره فتح خان د امر پروا ونکړه او تر شلو ورځو پورې له سلو تنو ساتونکوسره يوځای مانۍ ته ننوت. د زمانشاه اوبه له ترخڅه وواښتلې او د بلې دروهې په لټه کېشو. هغه خپل ساتونکي د مانۍ د ونو په يوې ګوښې کې ځای پرځای کړل او بيا يې امر وکړچې د ټبرونو او توکمونو مشران دې د پاچاهۍ درنښت او سلام لپاره د هغه لېدنې تهورشي. کله چې د فتح خان وار را ورسيد او د مانۍ دننه يې پښه کښېښودله، سيف الدولهميرعالم خان د شا له لورې پر فتح خان را ودانګل او پرځمکه يې راوويشت. هغه کسان چېد ونو تر شا پټ ول د سترګو په رپ

کې راغلل، خو فتح خان په میړانه د ځان دفاع وکړهاو مقاومت یې کاوه. په دغه اخ وډب کې د فتح خان غاښ مات شو. نواب اسد خان او د فتحخان ملګري میرزا محمد رضا او آقا مهدي چې له فتح خان وروسته ماڼۍ ته ننوتلي ول هم دفتح خان پهبرخلېک راګیر او ټول زندان ته ولویدل.

## د فتح خان د ژغورنې لپاره د دوست محمد خان زړورتیا :

دوست محمد خان چې پوه او هوښیار ویښ زلمی وو، له خپل مشر ورور سره یې یوځای دپاچا لېدنه لړ. شاته وغوځوروله او د هغه دغه لیرلېد د هغه د ځان او د پینځه سوه نوروهملارو ملګرو د ژوند د ژغورنې لامل شو. کله چې دوست محمد خان د خپل ورور د نیولو لهدروهې خبرشو، خپل ملګري او هملاري یې د فتح خان ژغورنې ته را وهڅول او د یو زړوراوبې باکه برېد په ترځ کې یې چې د ماڼۍ له هرلوړې څنډې پرې پرله پسې ډزې کېدلې وکولایشول د ماڼۍ لومړۍ دروازې ته دننه لاره وموي، فتح خان د زندان په دیوالونو کې دډیرو ساتکونکو تر څار لاندې وو او ساتونکو په پرله پسې ډول د دوست محمد خان پر لوږدزې کولې، نو دوست خان اړ شو چې کرار کرار شا ته شي. خو ماڼۍ یې کلابنده کړه او پههمدغې شیبې کې قیصر، خواجه محمد خان او خپلو نورو کسانو ته دننه وسپارله چې د ښارټولې دروازې دې وتړي او ساتونکي دې په کلکه د ټولو دروازو ساتنه او څارنه وکړي اوبیا دې د دوست محمد خان او دهغه هملاري ملګري ونیسي.

محمد عظیم د خپلو ملګروله لارې خپل ورور دوست محمد خان ته د قیصر له دغه ګامه خبر ورکړ.دغه خبر د دوستمحمد خان په زړورې پریکړې هېڅ اغیزه ونه کړه او په دغسې له ګواښه ډکې شېبې کې یېخپله زړورتیا له لاسه ورنه کړه.هغه خپل ورونه او ملګري را وبلل او ورته یې وویل :اوس موږ په خپله کلابند شوي یو، د ماڼۍ کلا بندي نه زموږ په ګټه ده او نه زموږ دورور د ژغورنې لپاره ګټه لري. ځکه چې قیصر زموږ د خاوري په سرکولو او یا یرغملنیولو په لټه کې دی، یوازینې کار چې کولای شو دا ده چې د خپل ځان د خلاصون لپاره لهسرښنندنې ډک یوه کار ته لاس واچوو او هغه دا ده چې په ډله ییزه توګه د ښار پر دروازېیرغل وروړو او باید د ساتونکو د تورو او چړو له خولو څخه له ځانه په تیرېدنې را تیرشو او له هغه وروسته باید د ګرشک په لور ولاړ شو. د دوست محمد ملګرو د هغه خبرهومنله او بیا دوست محمد خان توره له تیکي را وایستله او په خپل ټول زور ، زړورتیااو میړانې د خپلو اندیولانو په سر کې ودرید او د ښار پریوې دروازې یې برید وکړ. دهغه اندیوالانو هم د هغه په ـَل ، پـَل کښېښود او له ساتونکو سره یې د لاس اوګریوان جګړه پیل کړه. دوست محمد خان چې د ۱۵ � ۱۶ کلونو ځوان وو،د ښار د دروازې څوتنه ساتونکي یې له چړو تیر کړل او په پای کې په دې بریالی شو چې دروازې پرانیزي اوله هماغې دروازې یې د ګرشک پرلور تېښته وکړه. (۳۶)

زمانشاه چې د فتح خان اود هغه د وروڼو د نیولو پلان نیمګړی ولېد، نو قیصر ته یې امر وکړ چې فتح خان دې دهغهد پاچاهې د ړنګولو او د سترګو د ړندولو په غچ کې ووژنی، خو د هغه وزیر مختارالدولهشیرمحمد خان ددغه کار مخه ونیوله او قیصر یې ددغه بې باکه ګام له پایلو څخه خبرکړاو ورته یې وویل چې ښایي په راتلونکي کې د فتح خان د وروڼو له ورته غچ سره بهمخامخ شي او هغه یې اړ کړ چې له دغسې کار څخه لاس پر سر شي .

دوست محمد اوورونه یې په ګرشک کې د خپل ورور د ژغورنې په لټه کې ول خو د لښکر د برابرولو لپارهیې پیسې نه درلودلې. د هغوی له بخته یو کاروان له کندهاره د ایران پر لور د خوځېداپه حال کې وو او باید له ګرشکه تیر شوی وای. دوست محمد خان له خپل ورور محمد عظیمخان سره سلا وکړه چې په داسې یوې تنګسه کې داسې نابېره غیبي پانګه یوازې خدای دویته ورکړې او باید هغه را خپله کړي، له همدې امله دواړه ورونه په یوې سیمې کې په پټهکابو کښینستل او ناڅاپه یې پرکتار چاپه ووهله او له هغه څخه یې خلورلکه روپۍ ترلاسه کړې.(۳۷)

دوست محمد خان په همدغو پیسو یو لښکر را جوړ کړ او د کندهارپر لور را وخوځېد او ښار یې کلابندي کړ. کلابندي درې مېاشتې وغځېدله او د ښاریانواو سرتیرو ټولې زیرمې پای ته ورسیدلې. شهزادګۍ قیصر له دغه اکروکرڅخه لالهانده ووا او نه پوهېده چې څه وکړي؟ وزیر شیر محمد خان هغه ته سلا ورکړه چې که فتح خان لهبنده خلاص کړي نو ښار به هم له کلابندۍ وژغورل شوي پرته له هغه به دوست محمد خانټول ښار دړې وړې کړي. همدا ډول شیرمحمد شاه شجاع ته خبر ورکړ چې قیصر ته دې امرورکړي چې فتح خان خوشې کړي. شاه شجاع اړ یا شرط کښېښود چې دغه کار به کابل ته دمحمد عظیم خان او غلامخان د رالیږلو په ژمنې وکړي، چې په پای کې فتح خان یې خوشېکړ. (۳۸). خو الفنستون ګروهن دی چې فتح خان قیصر په یوې غونډې کې ولېد او د خپلوپخوانیو خدمتونو په یادونې او په راتلونکي کې د نورو ژمنو په کولو، قیصر یې دومرهتر خپلې اغیزې لاندې راووست چې نه یوازې هغه یې له زندانه خوشې کړ بلکه خپلې تولېپخوانۍ اړیکي یې له سره ورسره ژوندۍ کړې. د فتح خان په خلاصېدلو د کندهار ښار هم لهکلابندۍ وژغورل شو او فتح خان له خپلووروڼو سره یو ځای ګرشک ته ولاړ چې له شاه شجاعسره د یوې بلې جګړې لپاره چمتووالی ونیسي او پر کابل یرغل وروړي. کله چې هر څه سمشول، فتح خان د کندهار پر خوا را وخوځېد، خو کله چې کندهار ته را ورسید پوه شو چې) میرعلم خان پرکابل د برید کولو لپاره د قیصر سوچ او دریځ اړولی دی .فتح خان د قیصر له دغې ژبې اوښتنګ څخه خوابدی شو او پریکړه یې وکړه چې کامران لهفراه را وغواړي د قیصر ځای ناستی یې کړي .

فتح خان، کامران د کندهار د نیولولپاره را وپاراوه او د کندهار پر خوا را وخوځېد. په دې ترڅ کې یوه شپه یوه هېښ پېښکوونکې پیښه رامنځته شوه چې راتلونکو پیښو ته یې بل رنګ ورکړ. قیصرد کندهار په لورد کامران له خوځېدا او له فتح خان سره په یوځای کېدلوخبر شوی وو نو و یې غوښتل چېوتښتي. د شپې په تیاره کې قیصر د یوې شهلیت (مشال) له څنګه په پټه تښتېده او پههمدغې شېبې کې نابېره فتح خان هم له همدغه ځایه تیرېده. په لومړیو کې یې یوبلوپیژندل او د ښکنځلو په کولو یې یو بل ته ښه راغلاست وویل خو کله چې د ژبې او سپکوویلو اورونه ساړه شول، خبرې یې تودې شوې او په ګیلو یې یو بل ته پیل وکړ .

قیصرفتح خان ته وویل چې د ځان د ژغورنې په بدل کې چې ده ورسره کړې وه آیاښه به دا وي چې له کامرانه ملاتړ وکړي او یا هغه تېښتې ته اړکړي؟ فتح خان د قیصرژمنه ماتول او ویره، د قیصر پرمخ را وایستله. قیصریوځل بیا سوګند او لوړه وکړه چېنوربه د فتح خان له نظر او سلا څخه پرته بل هېڅ کار ونه کړي. په دې توګه دښمنې اوکېنه په سولې او پخلاینې را واووښتله او قیصر ته یې ډاډ ورکړ چې هغه به د کندهار پرواکمنی پرېږدي. ډېره موده نه وه تیره شوې چې کامران میرزا د ښار د دروازو شا تهلښکرکوټ دیره کړ. فتح خان کامران ته خبر ورکړ چې له خپلې پخوانې پریکړې لاس پر سرشوې او باید بیرته فراه ته ولاړ شي، خو کامران ونه منله او فتح خان اړ شو چې پرهغهداسې برېد وکړي چې لاره ورڅخه ورکه شي، کامران لاره ورکه کړه او په ډېرې سختۍ اولالهاندۍ یې ځان فراه ورساوه. (۳۹(

## فتح خان پرکابل د یوې بلې هڅې په لټه کې :

وزیرفتح خان څو ځله له شاه شجاع سره یو ځای شو او بیا یې ورڅخه پریکون وکړ. هېڅاړنګ نشته چې له دغو یوځای کېدنو او پریکونونو څخه د وزیر موخه دا وه چې د سدوزیوپه کورنیو کې یو وړ او پوه سړی ومومي چې د احمد شاه دُراني په څیر د هېواد د چارو دپرمخ بیولو لپاره پیاوړې وړتیا ولري. او دا هغه بیلګې وې چې نه په شاه شجاع ، نه پهکامران ، قیصر او نه د حاجي فیروزالدین خان په چال چلند او ژوند کې لیدل کېدلې. نود دغسې یوې تشې د ډکولو لپاره یوازېنې لاره یې دا ولوېدله چې که د خپلو هلو ځلو پهترڅ کې وکولای شي شاه محمود د شاه شجاع له زندانه را خلاص او بیا یې د کابل دواکمنی پر ګدۍ کښېنوي .

وزیرفتح خان داسې یو سړی وو چې سترړیا یې نه منله اود خپلې موخې د رسیدلو په لاره کې د هرراز ګواښ منلو ته چمتو وو اوویره یې نهدرلودله او له همدې امله وه چې د شاه محمود د واکمنۍ له نړېدلو وروسته په یو ځای کېنه تم کېده. کله به کابل، کله کندهار، کله فراه او هرات او کله پیښاور، سندهـ اوشکارپور ته د آس پرشا د خوځښت او دروملو په حال کې وو او دهمدغه خوځښت په ترڅ کې بهکله له لښکر سره او کله به یې له خپلو څو تنو ورونو سره د کابل او فراه ترمنځخنډونه د خپلې لارې له سره لېرې کول او د خپلو ورونو په هملاسۍ یې محمود له زندانهخلاص کړ او د کابل پر تخت یې کښېناوه. فتح خان پرته له دې چې خپلې تولې هڅې د ځانلپاره وکړي او واکمني په خپلو منګولو کې ونیسي، تـل یې د سدوزیو د پاچاهۍ د ټینګښتلپاره هلې ځلې کولې او په همدغې لاره کې یې خپل سر هم له لاسه ورکړ .

پههمدې ترڅ کې وزیرفتح خان د خپل لښکر له څارنې او غمخورۍ یوه شیبه بې خبره نه وو اود همدغې څارنې او غمخورۍ له امله ول چې له کورنیو او بهرنیو غلیمانو سره په جګړو کېبریا ، تـل دده تر څنګ وه .

## د فتح خان په مرسته د شاه محمود دویمه پاچاهي :

په هغو شپوورځو کې چې مختارالدوله شیر محمد له واکمنۍ ګوښه او میرواعظ د شاهشجاع د پرځېدنې لپاره لاس او پښې اچولې، فتح خان خپل ورور شیردل خان ته دنده سپارلېوه چې په کابل کې د قزلباشانو له ډلې څخه د یوتن په مرسته د کابل د بالاحصار لهزندانه د شاه محمود د راخلاصیدلو هلې ځلې وکړي. څرګنده چې د بالاحصارله زندانه دپاچا ژغورل اسانه نه ول او ډېرې پوهې او ځیرکوالي ته یې اړتیا درلودله چې تر سرهشي. د بارکزیو ورونو په منځ کې شیردلخان له وزیرفتح خانه وروسته په پوهه ، پوخوالیاو ځیرکتوب کې ډېر نوم درلود، هغه وکولای شول د ۸ ساعتو په اوږدو کې د کارپوهوورهڼګرو "کاسب" په مرسته تر بالاحصار لاندې یو کیندوۍ یا نقب ووهي او بندي پاچا لههغه ځایه را وژغوري. شاه محمود تر یوې مودې په شهدای صالحین کې د یوې مقبرې تر څنګپټ وو او د ښارګزمه د هغه له لټون څخه لاس په سراو نومېده شوه. شاه محمود د شپې پهتیارې کې پر اسپ کښېناست او له څو تنو سره یې د هرات پر لور په تیښته ودانګل. شاهمحمود ته په هرات کې د هغه ورور فیروزالدین په خوښۍ ښه راغلاست ووایه، خو ورور یېپه لنډ وخت کې په خپل چال چلند کې بدلون راووست ، ښایي له دې بیرېدلی وي چې هراتده له منګولو راخپل نه کړي. شاه محمود د خپل ورور په چلند کې د بدلون په لېدلو لههراته فراه ته راغی او په کندهار کې د فتح خان او د هغه د ورونو د لارو چارو جوړولوته سترګې په لار کښیناست. کله چې بارکزیو ورونو په کندهار کې ځواک را جوړ کړ نو شاهمحمود ته یې پیغام ولیږه او هغه یې کندهار ته را وباله او بیا د کابل پر خواوخوځېدل. په کلات کې د شاه محمود د هملارانو په منځ کې بیلتون او دوه ډلې توبرامنځته شو، نورمحمد خان او عطامحمد خان بامیزی د شاه محمود له لښکره بیل شول اویوازې فتح خان او دوست محمد خان سره له خپلو ورونو ورسره پاتې شول، له دې چې کومکار یې له لاسه نه تر سره کېده نو دوی هم بیرته د ګرشک خواته مخه تاو کړه .

شاه شجاع تر کلاته مخته راغلی وو، له هماغه ځایه بیرته پیښاور ته ولاړ چې دالفنستون تر مشرۍ لاندې انګلیسي پلاوي ته ښه راغلاست ووایي. انګریزي پلاوي د۱۸۰۹زکال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۵ نېټه پیښاور ته را ورسید او د شاه شجاع له پلوهورته په ډیرو ولولو ښه راغلاست وویل شو، ځکه چې دغه پلاوي د روسیې او فرانسې لهټلوالې څخه پاچا ته خبر ورکړی وو او له همدې امله د بریتانوي هند او د کابل د پاچاتر منځ لومړنی ګډ دفاعي تړون لاسلیک شو او د تړون تر ټولو مهمه موخه دا وه چې دکابل له لارې دې هند ته د فرانسویانو مخه ونیول شي. (۴۰.(

په ۱۸۰۹زکال کېشاه محمود یو ځل بیا د وزیرفتح خان د زړورتیا، پالیالۍ او کارپوهۍ او د هغه د ورونودوست محمد خان او شیردلخان په میړانه اووړتیا په دې بریالی شو چې ددویم ځل لپاره دواکمنۍ پرګدۍ ډه ډه ولګوي. لومړنی ګام دا وو چې فتح خان او د هغه ورور محمد عظیمخان دې د کابل پرلور د شاه شجاع مخه ونیسي. د محمد عظیم خان د لښکر شمیره لږ وه، دجلال آباد په بالاباغ کې د شاه شجاع له ځواک سره مخامخ شو، مقاومت یې ونه شو کړایاو بیرته په شا شو.

دوست محمد خان په کابل کې د شاه محمود د پوځي ځواک د لوبیولندوی په توګه وټاکل شو. د شاه محمود سرتیري هم لږ ول چې شمیره یې له درو زرو نهزیاتیدله، او د شاه شجاع د سرتیرو شمیره ۲۵ زرو ته رسیدله چې یو پیاوړی توپچي ځواکهم ورسره وو. د دوست محمد خان ځواکونو ګندمک ته نیږدې د شاه شجاع پرځواکونو د شپېله پلوه غلچکي بریدونه وکړل او ښه درانده تاوانونه یې دښمن ته وروړسول.

موهن لال وایي چې " هغه کسان چې د جګړې په ډګر کې ول، را ته وویل چېپه دغسې سترې جګړې کې ددوست محمد خان د پوځي پوهې ستاینه لکه چابکي، هوښیاري،زړورتیا، ټینګوالی او مقاومت، لاربنوونه او سرمشري دومره ډیره ده چې څوک یې نه شیستایلای. سرتیرو لیدل چې دوست محمد به ددښمن پریوه کتار ور ننوت، د هغوی ملابه یېورماته کړه او بیا به په شا شو او خپل ملګري یې یرغل او جګړې ته هڅول. بله شېبه بهمو ولیدل چې هغه به د یو شمیر بې دسپلینو سرتیرو د بیا سمبالولو لپاره د یوه لاربښوددریځ را خپل کړ. مدد خان او اعظم خان چې د لسو زرو سرتیرو مشري یې په غاړه درلودلهد خپل لښکر د پوځي دریځ سستوالي ته پام کوي او له دې چې دوست محمد خان د هغوی دلښکر ډیر سرتیري وژلي ول، لاره او ګودر ورڅخه ورک اوپه ویره کې ډوبیږي. په پای کېدوست محمد خان په دې بریالی شو چې د دښمن سرلښکرې او مخکښه برخه ور دړې وړې کړي اوهغوی شاتګ ته اړباسي او هغوی ته یې د پوځي توکو د شمیر له درکه درانده تاوانونهورسول." (۴۱ .(

بله جګړه په نملې کې رامنځته شوه او فتح خان په خپله په دغېجګړې دومره زړورتیا او میړانه وښودله چې شاه شجاع ماته وخوړله او وتښتېد، د هغهوزیر اکرم خان ووژل شو او د شاه شجاع ټول پوځي توکي د فتح خان د لښکر لاس ته ورغلل،هغه سره زر او د ډُرانبیو کانو پانګه چې د فتح خان د ځواک لاس ته ورغلې وه دوهمیلیونه پـَونده اټکل شوېده. (۴۲ (

له هغه وروسته فتح خان جلال آباد تهولاړ او خپل ورور محمد عظیم خان ته یې چې لومړۍ دنده وسپارله دا وه چې له شهزادګیکامران سره پیښاور ته ولاړ سي او هغه ښار دې هم د شاه شجاع له منګولو راخپل کړي اومالیه دې راټوله کړي. محمد عظیم خان او شهزادګی کامران د پیښاور پر لور ولاړل اوهغه ښار یې ونیو. محمد عظیم خان د پیښاور د چارواکي واکمن په توګه هلته پاتې شواوشهزادګی کامران کابل ته راستون شو .

وروسته له دې چې شاه شجاع په نملې کېماته وخوړله د خیبر پرلور وتښتېد او څه موده وروسته یې پریکړه وکړه چې یو بل لښکرراټول کړي او پرکندهار برېد وکړي. هغه همداسې وکړل او د نورزیو له خانانو سره یوځای یې پرکندهار برېد وکړ چې په دغو خانانو کې د میرعلم خان پلار، عبدالله خان همهو چې د شاه محمود له پلوه زنداني او بیا وژل شوی وو. سره له دې چې پردل خان دکندهار له ښاره په زړورتیا دفاع وکړه خو ښار بیا هم د شاه شجاع لاس ته ورغی، یولښکر د وزیر فتح خان په امر د شهزادګي کامران په ملتیا په لنډ وخت کې د کندهارپرلور وخوځېد او د دواړو لورو ترمنځ ټینګه جګړه ونښتله خو شاه شجاع بیا د وزیرفتحخان له لاسه ماته وخوړله او شجاع راولپنډۍ ته ولاړ. وروسته شاه شجاع د کشمیر دواکمن عطا محمد خان په ژمنو چې د کوه نور الماسو ته یې سترګې غلې کړې وې، پیښاور تهولاړ او یو ځل یې وکولای شوای چې ان د محمد عظیم خان له منګولو څخه پیښاور د لنډېمودې لپاره را خپل کړي خو نوموړي سرلاري بیرته پیښاور د شاه شجاع له ګوتو خلاص اوراخپل یې کړ .

شک نشته چې که د کابل د واکمنۍ پرګدۍ مین شاه شجاع چې د هغهلپاره یې بې شمیره لالهاندۍ او سربدلای ولیدلې ، د شاه محمود له بندې کولو اولهوزیر فتح خان سره په یوځای کېدنې وروسته، وزیر فتح خان یې له ځانه نه وای خوا بدیکړای او نه وای یې پرې ایښای چې وزیر فتح خان د هغه له دښمنانو او سیالانو سره یوځای شي، شاه شجاع به د کابل د پاچاهۍ او واکمنۍ واګې تر ډیرې اوږدې مودې پورې پهلاس کې درلودلای. خو شاه شجاع ګومان کاوه چې هغه کولای شي په ساده ګۍ فتح خانوغولوي او ددې پرځای چې هغه ته پاملرنه وکړي، بارکزي خانان یې له ځانه خوابدي کړلاو ددغه سیاست بیه په خپله د شاه شجاع لپاره ګرانه را پریوتله .

خو شاهمحمود چې د خپلې پاچاهۍ دویم پړاو د فتح خان او د هغه د ورونو د هڅو په مټ راخپلکړی وو، د هیواد د ادارې ټولې چارې

يې وزير فتح خان او دهغه ورونو ته چې د شاهمحمود د ډېر ډاډ وړ کسان ول، وسپارلې. شاه محمود، وزيرفتح خان يې د سر وزير په توګهوټاکه او له درنښت ډک د (اشرف الوزراء) نوم يې ورکړ. د پاچا د همدغه ډاډ له امله بارکزيو ورونو تر وسې وسې هڅه وکړو چې د افغانستان د څواک هغه برم او پرتم چې د ستراحمد شاه بابا په وخت کې وو راژوندی کړي. وزير فتح خان دغې موخې ته درسيدلو لپاره دافغانستان د ګڼ شمير ولايتونو واکمني يې د خپلو ورونو په منځ کې چې خپل ټول ژوند يې د شاه محمود د پاچاهۍ د بيا ترلاسه کولو په لاره کې په سربښندۍ ډالۍ کړی وو وسپارلهاو هغوی هم په نه ستړې کېدونکې توګه د هېواد اړوندې چارې د هېواد د پرمخ بيولو پهلاره کې په لاس کې واخيستلې او خپل کارونه يې پيل کړل .

پردلخان د کندهار دولايت والي، سلطان محمد خان د پېښاور والي، شيردلخان او کهندل خان د باميانو اوغزني واليان، رحمدل خان چې ګڼ شميروختونه په شکارپور کې اوسيده د بلوڅستان د ولايتد والي په توګه وټاکل شول. نور ورونه يا د نوموړو واليانو تر لاس لاندې او يا دمشرانو ورونو لکه فتح خان ته د مرستې د لاس ورکولو لپاره په کابل کې په کارونو بوختشول. دوست محمد خان چې د زړورتيا او مېړانې نوم يې خپور وو او د خپلوورونو په منځکې په کارپوهنې او د پېښو د ليرليد اوپه سياست کې له تر نورو ډېر ځلانده بريښېده،له وزيره وروسته رتبه يې درلودله او په کابل کې د وزارت د چارو د سمبالونې او دسردار محمد عظيم خان، نواب اسد خان او نواب جبارخان د کورنيو پالنه ورته سپارل شوېوه؟ [سيستاني صاحب! ماته دغه جمله لږ څه پيچلې ښکاري! آيا همداسې سمه ده که رغښتپکې غواړئ؟ دلته زه د کورنيو وييکي شکمن کړی يم ]

هرات يوازينی ولايت وو چېسدوزيو له کورنۍ څخه د شهزادګي فيروزالدين په لاس کې پاتې وو او هغه هم لدې امله ووچې د فتح خان ځواک په ختيځو ولايتونو کې د ټيکاو او امنيت او د چارو په بياسمبالولو بوخت وو ځکه تل د شاه شجاع او رنجيت سنګهـ له پلوه پکې خنډونه رامنځتهکېدل .

## د پېښاور او کشمير د نيولو لپاره د وزير فتح خانلښکري خوځښت :

شاه محمود د وزيرفتح خان د سربښندنو او هڅو له امله په (۱۸۰۹ ز/ ۱۲۲۴ق) کې د نملې په جګړه کې د شاه شجاع له ماتې وروسته د کابل د واکمنۍ پر ګدۍډه ډه ولګوله. د واکمنۍ پرګدۍ د چرچه مار پاچا د ډډې لګولو له امله چې ناوړيتا اونا کارپوهيزه اړخ يې د واکمنۍ په لومړي پړاو کې راڅرګند شوی وو، يو شميرخوابدۍ ،اله ګولې او پاڅونونه را وپارول. د هغه سيال شاه شجاع چې د نملې له ماتې وروسته دختکو غرنيو سيمو ته تښتېدلی وو د کابل د راخپلولو په موخه د کندهار له لارې راوړاندې شو (۱۸۱۰ ز- ۱۲۲۵ ق)، خو بيا يې د وزير فتح خان له توري ماته وخوړله او هندته ولاړ او له هغه ځايه يې پرپېښاور بريد وکړ او پېښاور يې د څو مېاشتو لپاره پهمنګولو کې راټينګ کړ، د وزير فتح خان ورور، سردار محمد عظيم خان د پېښاور ښار دشجاع له لاسه را خلاص کړ. شاه شجاع دا ځل د ملتان، راولپنډۍ او لاهور پر خوا ولاړاو شاه محمود يو ځل بيا چرچه مارۍ ته متې را بډوهلې او فتح خان دې ته اړ ووچې دهېواد ټولې چارې هم له اداري او هم له پوځي اړخه پر مخ يوسي .

وزيرفتح خانهم په ډېرې پوهې او ځيرکوالي د افغانستان د چارو په سم پرمخ بيولو بوخت شو او دهېواد نيو چارو په پرمخ بېولو کې ډېر ښه وځلېد. د وزيرفتح خان د بريا اړخ د هغه پهپوهه ، سياست، ليرليد او په خپلو ورونو د ډاډ او په دوه اړخيزه درناوي پورې تړلی وواو نورو ورونو ورته د مشر ورور په سترګه ډېر درناوی کاوه او د هغه خبرو ته يې غاړهاېښودله. هېوادنۍ چارې په دې ډول پرمخ تللې خوعطا محمد خان باميزي چې په کشمير کې دخپلې څو کلنې واکمنۍ له شامِـته يې ځان د يوه پياوړي واکمن په هېنداره کې لېده اوخبره يې دې ځای ته ورسيدله چې شاه محمود ته يې د درناوي سر نه ټيټاوه نو کابل ته يېد ماليې له راليږلو ډه ډه وکړه ان په دې سوچ کې هم ولولېد چې پېښاور د شاه محمود لهواکمنۍ څخه بيل او ځان خپلواکه کړي. له دې امله فتح خان خپل ورونه سمندرخان اوجهانداد خان د يوه درې زره کسيزلښکر په مشرۍ کې پېښاور ته وليږل چې پېښاور ونيسي، دهغې جګړې په ترڅ کې چې رامنځته شوه ، عطا محمد خان ماته وخوړله او پېښاور دسمندرخان او جهانداد خان په لاسونو کې راپريوت .

د يادونې وړ ده چې عطامحمد خان باميزي د کشمير د ځوکلن حکومت واګې د شاه شجاع د فرمان له امله ترلاسه کړېوې مګر سره له دې چې شاه شجاع خپله پاچاهي له لاسه ورکړې وه او په بې نوم اوبېپرتمه توګه په لاهور کې سربداله ګرځېده بيا هم عطا محمد خان د کشمير واکمن چارواکيوو. دغه دوه تنه کېدای شوای له يو بل سره نيږدې شي خو د دواړو ترمنځ د پلاروژنېتربګني پرته وه او هغه د مختارالدوله شيرمحمدخان وژنه وه چې د عطا محمد خان پلارکېده او د عطا محمد خان تره محمد خان چې د قصير د اله ګولې پر مهال په پېښاور کېوژل شوې. دوی دواړه د شاه شجاع په لاس وژل شوي ول.

هر ګوره، له دغې تربګنۍسره سره عطامحمد خان شجاع الملک ته لېک ولېږه او هغه يې له لاهوره وتلو، پېښاور تهپه تللو او د واکمنۍ د ګدۍ د نيولو لپاره و هڅاوه. شاه شجاع د پاچاهۍ د نيولو پههېله پېښاور ته راغی، خو عطا محمد ، سمندرخان او جهانداد خان ته په پټه خبر ورکړ چې‌د هغه د پلار وژونکی شاه شجاع دې بندي او کشمير ته دې ور واستوي. له همدې امله هغويشاه شجاع د يوې مېلمستيا په ترڅ کې ونيو او عطا محمد خان ته يې ولېږه او عطا محمد،شاه شجاع د کشمېر په بالاحصار کې بندي کړ. (۱۸۱۲ز)

له همدې امله وو چې عطامحمد خان د بارکزیو ورونو اوشاه محمود په وړاندې دریم پیاوړی لاس ګډل کېده او لههمدغه دریځه په ګټې اخیستنې یې کابل ته د مالیې له رالیږلو ډه ډه کوله. وزیر فتحخان د هیواد د والیانو په چارو کې ډیر حساسه وو په ځانګړې توګه هغه ولایتونه چې دېردیو تر اغیزو لاندې ول، نو د شاه شجاع د نیول کېدلو خبره یې پاچا ته وویله او پهپای کې پاچا هم ملا وتړله چې له وزیر فتح خان سره یوځای د یوه ستراو پیاوړي لښکر پهملتیا په هغه لور ور وخوځېږي .

جهانداد خان او سمندرخان ددغه خبر په اوریدلووتښتېدل او شاه محمود پیښاور ته راغی. کله چې د کشمیر والي د شاه محمود له پریکړېخبر شو، پاچا ته یې پیغام را ولیږه چې په کال کې یو لک روپۍ مالیه به ورکړي خو پهدې اړ چې دی د هغه ځای د والي په توګه پاتې شي. پاچا او وزیر دواړو دغه وړاندیز تهغاړه کېښېښودله او خپل کسان یې کشمیر ته د مالیې د راوړلو لپاره ولیږل. د پاچا لیږلشوي کسان بیرته په تشولاسونو راغلل او د عطا محمد خان له ناوړه چال چلند څخه يېوزیر فتح خان ته سرټکونه وکړه. په دغه وخت کې پاچا په ملتان کې وو او کله چې د عطامحمد خان چال چلند یې د خپلو کسانو له خولې واورېد، د پاچا ښه به بله واوښتله اوپریکړه وشوه چې کشمیر ته ولاړ شي او د عطا محمد غوړونه کلک ور تاو کړي. (۴۳ .(

په هغه شیبه کې چې لښکر د اټک په لور د خوځښت په حال کې وو، نابېره هر څهسرنسکوره شول، ځکه خبر راورسید چې شید اشرف اوسید عطا د کوهستان له یو شمیروګړو سرهد شاه محمود د ورور شهزادګي عباس ګرد چاپیره را تاو شوي دي او د هغه د پاچاهۍغوښتونکي دي، ددغه خبر په رسیدلو څرګنده ده چې د کشیمر پر لور د تللو په وړاندې خنډرا منځته کړ. د هغه ترڅنګ د شاه محمود د سرتیرو په منځ کې ګنګوسې خپرې شوې وې چې دشیعه ګانو او سنیانو ترمنځ جګړې رامنځته شوې ، د لښکر د قزلباشو سرتیرو برخه ددغهخبر په اوریدلو سخت په ویره کې لوېدلي ول او له پاچا یې وغوښتل چې بیرته کابل تهستون شي چې له خپلو کورنیو سره مرسته وکړي .

په پای کې پریکړه وشوه چې پاچاو وزیر دې پیښاور ته ولاړشي او دوست محمد خان او محمد عظیم خان دې د اله ګولې دغلې کولولپاره کابل ته ولاړ شي. هغوی د لسو ورځو په اوږدو کې اله ګوله غلې کړه،شهزاد ګی عباس یې په زندان کې واچاوه. سید اشرف او سید عطا چې د اله ګولې پارووںکیپیژندل شول ونیول شول او د فیل تر پښو لاندې ووژل شول .

دا دویم ځل دی چې یوپاچا د کشمیر دوالي د را پرځولواو له هغه سره د حساب او کتاب کولو لپاره له کابلهخوځیږي او تر پیښاوره رسیږي خو د هیواد په پلازمېنه کې د نابېره پیښود رامنځتهکېدلو له امله بیرته دې ته اړ کیږي چې پلازمېنې ته را ستون شي. لومړی ځل کشمیر ته دستنیدلو خبره شاه شجاع او امین الملک محمد اکرم هغه مهال و ځنډوله کله چې کابل دفتح خان په لاس را وپرځېد او شاه محمود پاچا شو، او دا دې دا ځل شاه محمود او وزیرفتح خان د شهزادګي عباس د ستونزې له امله اړ شول چې د عطا محمد خان خبره په کشمیرکې پر خپل حال پریږدي او د هېواد پلازمېنې ته بیرته راستانه شي. (۴۴ ( په بل کالیې (۱۸۱۲ز) وزیرفتح خان او دوست محمد خان د یوه ۸ زره کسیز لښکر په مشرۍ کې د کشمیرد ستونزې د هوارې لپاره له کابله د کشمیر پر لور وخوځېدل. د ۱۸۱۲زکال د نوامبرپهوروستیو کې افغاني سرتیري د ا ندوس له سینده تیر شول. وزیر له هرڅه لومړی له رنجیتسینګهـ سره د خپلو اړیکو ښه کول اړین وبلل. له دې امله له خپلو ورونوسره چې په دغهخوځښت کې شمیر یې ۱۸ تنو ورونو ته رسیده د سلا او مشورو پر ټغرکښیناست. د وزیر یوهورور وړاندیز وکړ چې په لومړي ګام کې دی د رنجیت سینګهـ ټغر ورټول کړي خو وزیر ددغهوړاندیزپه وړاندې ودرید او ویې نه مانه او هغه یې یو ناسمه او بې سنجشه ګام وبالهاو د کشمیر پر لور د خپلې نقشې په وړاندې یې یو سترګواښ وباله. وروسته یې د خبرواترو لپاره یو پلاوی رنجیت سینګهـ ته ولیږه. رنجیت سینګهـ د افغان لورې وړاندی شویخبرې ومنلې او ویې ویل چې خبرو ته چمتو دی او باید د پام وړ پایلې ته ورسیږي. خبرپیل شوې او رنجیت سینګهـ ومنله چې د سیکهانو تر ولکې لاندې سیموکې به د افغان پوځلپاره د تیرېدلو اسانتیاوې برابرې کړي او د هغه ترڅنګ به د خپل پوځ یوه برخه دافغانانو د مرستې لپاره په افغان لښکر کې ورګډه کړي خو شرط یې دا دی چې د کشمیر دمالیې یوه پر دریمه برخه سیکهانو ته ورکړل شي. یوه او ځیرک وزیر د لنډ مهال لپارهدغه وړاندیز ومانه او بیا یې د کشمیر د نیول لپاره، د لښکر مخه کشمیر ته را تاوکړه. (۴۵ )

وزیر فتح خان د سیکهانو لښکر ته سترګې په لار پاتې نه شو او د۱۸۱۳ز کال په فبرورۍ کې کشمیر ته ورسید. د دواړو خواوو تر منځ خونړۍ جګړه ونښتله،په پای کې عطا محمد خان " د بامیزیو د خانانو په سلا، د سپیڅلي قرآن صحیفې یې د ځانژغورنې لپاره پرځان را تاو کړې، په لوڅ او بربنډ سر ، رسۍ په غاړه او توره په لاس د) شاه شجاع) مخ ته وړاندې شو او د یوه سپیڅلي مشر په ګډلو یې هغه ته د قران سپیڅلتیارا مخته کړه او هغه ته یې د عالم او عالمیانو د قبلې د نوم په ورکولو له هغه څخهبخښنه وغوښتله او ورڅخه ویې غوښتل چې د هغه دغه پښه ښوییدنه دې ور وبخښي. " (۴۶ (

هر ګوره، عطا محمد خان ځان وسپاره او وزیر فتح خان د عطا محمد خان د پلارمختارالدوله شیرمحمد د مرستو په بدل کې چې په کندهار کې یې د قیصر په لاس د ده دوژلو مخه نیولې وه، وبخښه او تاوان یې ور ونه رساوه او هم د توکم د مشرانو اومختورتوب په مخ یې شاه شجاع هم آزاده پریښود او ورته ویې ویل چې هرچیرته چې ځي،ولاړ دې شي. عطا محمد خان له کشمیره ووت او د دیره جات له لارې په کندهار کې کامرانته ورغی او د هغه په زړه کې یې د نومیالي وزیر پر وړاندې د رخې او سخې اور دوه ځلهنور زیات کړ او د هغه راتلونکې کړه وړه څرګندوي چې د یوه هېواد په چارو کې د ځانګړوکسانو د ځانغوښتونې او له رخو او سخو ډکې

لاسوهنې تر کومې کچې هغه ته په خپله او دهیواد ګټو ته څومره تاوان رسولای شي .

اشرف الوزراء فتح خان د کشمیر د چارولە سمبالولو وروسته، محمد عظیم خان چې په جګړو کې د وزیر ترځنګ ولاړ وو، د کشمیرواکمن وټاکه او د سیکهـ سرتیري چې په سره ژمي کې د کشمیر په واورو پوښلو غرونو کېدیره ول او هېڅ کار یې ونه شوای کولای، د سوغاتونو په ورکولو رخصت کړل. څرګنده دهچې رنجیت سینګهـ د خپلې شوې ژمنې ونډې ته سترګې په لار وو او له دې چې ونډه یېترلاسه نه کړه نو د یوه لک روپیو په بدل کې یې د اټک کلا د عطا محمد خان بامیزي لهورور جهانداد خان څخه را وپیرودله او د سیکهـ سرتیري یې هلته دیره او ځای پرځایکړل. (۴۷ )

وزیرفتح خان، شاه شجاع ته وړاندېز وکړ چې شاه محمود ته غاړهکښېږدي او له هغه سره دې کابل ته ولاړ شي، خو بد مرغه پاچا د افغان وزیر دغهوړاندیزو نه مانه او د سیکهانو له سرتیرو سره لاهور ته ولاړ. کله چې شاه شجاع لاهورته ورسید، نو د رنجیت سینګهـ منګولو ته ورغی او ښه یې وزبیښه چې د عطا محمد خان لهزندانه د هغه د ژغورنې په بدل کې دې د کوه نور الماس دې ده ته د سوغات په توګهوروسپاري چې تر دغه دمه د هغه د میرمن په ولکه کې وو. خو پاچا د کوه نور د الماسوله ورکړې ډه ډه وکړه. رنجیت سینګهـ شاه شجاع ته د مرګ د ګواښونو له ورکړې او دشهزادګې تیمور له وهلو او ټکولو وروسته له شاه شجاع څخه ژمنه واخیستله چې دی دې دکشمیر د والي په توګه ومني او د کابل د واکمنۍ په لاس ته راوړلو کې یې ورسره دمرستې ژمنه وکړه او په دې توګه یې د کوه نور الماس هم ورڅخه واخیست. په دې ډول شاهشجاع په لاهور کې د یوه نیمه یرغمل په توګه ژوند کاوه او رنجیت سینګهـ هڅه کوله چې‌له شاه شجاع څخه پاتې د سرو زرو پانګه او پیسې چې له سوداګرو سره وې، راخپله کړي .په پای کې شاه شجاع وکولای شول خپله میرمن له لاهوره، لودهیانې ته ولیږي او په خپلهد یو هندي جوګي په جامو کې له لاهوره ووت او د کشمیر او تبت له لارې لودهیانې تهولاړ. (۱۸۱۶زکال). (۴۸ )

د اټک د کلا د بیرته نیولولپاره د وزیر فتح خانلښکري خوځښت :

د کشمیر له سوبې وروسته ، په هغو شپو ورځو کې چې د سیکهانو د لښکرسرلارۍ مشر ملکهم له وزیر فتح خانه بیلېده هېله وکړه چې د عطا محمد خان ورور، غلاممحمد خان پوپلزي ته دې اجازه ورکړي چې له هغه سره لاهور ته ولاړ شي. فتح خان دسیکهانو د سرلښکر دغه غوښتنه و منله او هغه یې خوشې کړ چې لاهور ته ولاړ شي، خودوست محمد خان د غلام محمد خان په خوشې کولو خوښ نه وو او ددغه کار پایلې یې لهسترګواښ سره نغښتې ګڼلې. د دوست محمد خان دغه اټکل پر ځای وو، ځکه، کله چې غلاممحمد خان د اټک د کلا واکوال خپل ورور جهان داد خان ته ورسیده، نو خپل ورور یې وهڅاوه چې د اټک کلا دې د ځای او ځمکې په بدل کې پر سیکهانو و پلورې. هغه هم کټ متهمدغسې وکړل او رنجیت سینګهـ د اټک کلا د یوه لک روپیو په بدل کې خپلو منګولو تهراوستله. د اټک د کلا د بیا را نیولو لپاره د وزیر فتح خان د لښکري خوځښت په تړاو دتأریخي سرچینو خبرې تر یوه بریده له یو بله توپیر لري. پیرس، د " بارکزیو لوړېدا / عروج بارکزائـي" په کتاب کې وایي چې فتح خان د کشمیر له سوبې وروسته، پېښاور ته دراستنیدلو پر مهال، کله چې د رنجیت سینګهـ له دغې معاملې خبر شو، ګواښ یې وکړ چېسیکهان دې مخکې لدې چې توري یې پرمخ را وایستل شي، د اټک کلا دې بیرته وروسپاري، خوسیکهانو ستر او پیاوړی لښکر را ټول کړ او جګړې ته یې ملا وتړله. افغان لښکر د اټککلا ته نیږدې دیره شو او کلا یې تر ټینګ ګواښ او کلابندۍ لاندې ونیوله. رنجیتسینګهـ د اټک د کلا بولندوی ته لارښوونه ورکړه چې له کلا دې ووځي. د جولای پر ۱۲نېټه سیکهان د اټک له کلا ووتل او د اټک د سیند د غاړې په څنډو کې یې خپل خوځښت تهدوام ورکړ .

ز‌یر فتح خان خپل ورور دوست محمد خان ته دنده وسپارله چې د دوهزرو افغان اربـَ کیو تر مشرۍ لاندې دې د سیکهـ د لښکر پر مخکښې ډلې یرغل ور وړي .حیدر آباد ته نیږدې دوست محمد خان د سیکهانو پر لښکر پیاوړی یرغل ور ووړ چې لهتینګې ماتې وروسته یې دښمن تیښتې ته اړ کړ. یو شمیر وسلې د دوست محمد خان لاس تهورغلې. افغانان په دې ګومان چې بشپړه سوبه یې ورپه برخه شوې، نو د ولجو په راټولولو بوخت شول. په همدغې شېبې کې د سیکهانو د لښکر سرلارۍ چې دوه توپک یې په لاساو پر فیل سپور وو، برید وکړ او د افغانانو لور ته یې په ډزو پیل وکړ. د توپک د ډزوله امله، د دوست محمد ځواک هرې خواته خور او وور شو.

وزیر فتح خان د هیواد د ملي او ولسي واکمنۍ او ځمکنۍبشپړتیا په لاره کې او هر کله چې د هیواد پر سپیڅلې خاورې د پردیو د لاسوهنو خبرهرا پورته شوې نو د هغوی په له منځه وړلو کې د هیواد اود هیواد د ناموس او د ولس دنام او ننګ د ساتنې لپاره یې د مورنۍ خاورې د دښمنانو په وړاندې تور له تیکي راایستلې او د یاغیانو او سرغاړو په وړاندې یې له کشمیر، سندههـ او بلوڅښتانه نیولې دهرات ترورروستیو کرښو پورې په میړانې سرښندنې کړې او د هیواد ځمکنۍ بشپړتیا او ملیګتې یې د ولس په ګټه خوندي ساتلې دي .

دوست محمد خان خپل ورور ته چې اټکته نیږدې دیره وو پیغام ولیږه او د مرستې غوښتنه یې وکړه. پیغام وړونکي لاره ورکهکړه او خبر هېڅکله وزیر ته ونه رسید. له بلې خوا وزیر ته خبر راغی چې افغاني لښکردړې وړې او دوست محمد خان وژل شوی دی.

وزير د پېښاور د هاغو ورځو د بوړنوونکيتودوخې او د دښمن د نابېره بريد له امله په شا شو. له بلې خوا دوست محمد خان ته خبررا ورسيد چې وزير وژل شوی. هغه هم په لنډ وخت کې ځان لښکرکوټ ته را ورساوه. له دېچې د افغان لښکر پيټي او بارونه د اور د لمبو او لوګيو په منځ کې له منځه تللي ول،دوست محمد خان هم د يو شمير وسلو له را اخيستلو ورسته کابل ته مخه کړه. د لارې پهاوړدو کې دواړه وروڼه د رنجيت سينګهـ له چل او درغلنې خبر شول او له دې چې دواړهژونديې ول، خوښ ول او له رنجيت سينګهـ څخه د غچ اخيستنې چاره يې بل وخت ته په شاوغورځوله او کله چې کابل ته را ورسيدل ، شاه محمود هغوی ته په توده غيږ ښه راغلاستوويل. (۴۹)

په راتلونکي کال رنجيت سينګهـ د کشمير نيولو ته سترګې غړولې،نوموړي د ماليې د يوې برخې راخپلول پلمه کړل او د ۱۸۱۴زکال د جولای (۱۲۳۰ ل) پهمېاشت کې يې د سردار محمد عظيم خان پروړاندې لښکري خوځښت وکړ. په لومړي يرغل کې چېپه همدې مېاشت کې وشو، شپږ زره سيکهان ووژل شول او د هغوی دوه نور برېدونه په شا وتمبول شول او په کشمير کې د محمد عظيم خان واکمني پياوړې شوه. وزير فتح خان د رنجيتسينګهـ د پراختيا غوښتنې له نقشې څخه خبر وو او د اټک د کلا نيونه يې د افغانستانپه خاوره کې د يوې لاسوهنې په توګه ګڼله .

فتح خان د يوه ملي ولسي مشر پهتوګه د بهرنيو لاسوهنو په وړاندې تل د ډيرو کلکو ګامونو د پورته کولو غوښتونکی وواو د پرديو کوشنی لاسوهنه يې نه شوای زغملای. د سيکهانو په لاس د اټک د کلا نيونې دهغه تر پښو لاندې سور اور بل کړی وو او همدغسې يو شيبې ته سترګه په لار وو چېپرکشمير د رنجيت سينګهـ خبر يې تر غوږونو شو .

په ۱۸۱۴ز کال کې، وزيرفتح خانيو ځل بيا له رنجيت سينګهـ سره د جګړې په موخې لښکر را چمتو کړ او تر ملتانه وړاندېولاړ او هلته يې وروسته له دې چې شاه شجاع ته ماته ورکړه او د هغه ورور نواب جبارخان يې د هغه ځای د واکوال په توګه وټاکه، د اټک کلا ته يې مخ را تاو کړ. خو له دېچې سيند ډير زيات ځپانده وو، د افغاني سرتيرو تيريدا له سينده نا شونې وه او پرتهله دې چې د رنجيت سينګهـ له لښکر سره مخامخ شي، بيرته کابل ته راستون شو. (۵۰).

په ۱۸۱۶ زکال کې وزير فتح خان د افغانستان په خاوره کې د رنجيت سينګهـلاسوهنه د اغيزمنو توکميزو مشرانو له غوږونو تيره کړه او سترپياوړی لښکر يې را جوړکړ. وزيرفتح خان او دوست محمد خان دواړو دغه لښکر له ځان سره را واخيست او د پيښاورپر لور وخوځېدل. وزير فتح خان د پښاور له نيګولو وروسته د خپل د لښکر د لا چمتوکولو لپاره دوست محمد خان ته دنده و سپارله چې له کشمير څخه ماليه را ټوله کړي .نوموړی کشمير ته ولاړ او له خپل ورور محمد عظيم خان څخه يې ۱۳ لکه روپۍ ترلاسه کړياو بيرته پيښاور ته راغی. وزير فتح خان د خپل لښکر له رغښت او پياوړي کولو وروستهبولنده ورکړه چې د اټک کلا دې په هره بيه چې وي د سيکهانو له منګولو ونيسي. ډيرهپياوړې خونړۍ جګړه ونښتله او سيکهانو ته يې درانده تاوانونه ورسول، په پای کېسيکهان اړ شول چې د اټک کلا تشه کړي او له هغې څخه په شا شي. له همدغې جګړې وروستهرنجيت سينګهـ تر څو چې وزير فتح خان ژوندی وو، بيا زړه ونه کړ چې بل خوځښت وکړي اوپراټک يا کشمير يرغل ووړي، همدا چې په ۱۸۱۸زکال کال کې يې خبر ترلاسه کړ چېوزيرفتح خان د شاه محمود له پلوه ووژل شو نو د سترګو په رپ کې يې پر کشمير بريد وکړاو هغه يې د محمد عظيم خان د ورور سردار نواب خان له منګولو راخپل او ويېونيو(۱۸۱۹ز/۱۲۳۵ ل).(۵۱) او پر دغه ښکلي ټاټوبي يې د وروستني افغان واکمن دواکمنۍلاس رالنډ کړ .

له ايرانيانو سره د وزير فتح خان وروستنۍ جګړه :

کله چې وزيرفتح خان د هيواد ( ختيځه دروازه) د سيکهانو له منګولو را خپله کړه،ايرانيانو د هېواد پر (لويديځې دروازې) هرات يرغل راووړ چې ويې نيسي. وزيرفتح خانپه بيړه له ختيځو لېکو ځان دهيواد لويديځو څنډو ته ورساوه، د هرات والي حاجيفيروزالدين يې له کاره ګوښه اوهرات يې له کابل سره ونښلاوه او په غوريانو کې يې دايرانيانو مخه ونيوله .

ددې پيښې لنډيز داسې دی چې پرکال ۱۸۱۸ز/۱۲۳۳ل کېايرانيانو يوځل بيا هرات کلابندي کړ. د شاه محمود ورور حاجي فيروزالدين د هرات واليوو . هغه له ايرانيانو سره ژمنه وکړه چې ايرانيان دې د هرات له کلابندۍ څخه په دغوشرطونو لاس پر سر شي چې والي به ايرانيانو ته د غوريانو د کلا په ور پريږدي ،يوشمير ماتــنـۍ (غرامات) پيسې به ورکوي اوپه هرات کې به خطبه او سکه دواړه د ايراند پاچا (فتح عليشاه قاجار) په نامه را واړوي. له دې چې حاجي فيروزالدين د ايرانيلښکر د مقاومت زور نه درلود نو د غوريانو د کلا د بيرته راستنولو لپاره يې خپل وروړشاه محمود ته مخه کړه. شاه محمود وزيرفتح خان هرات ته د مرستې لپاره ور وليږه .

وزير په بيړهيو ۱۲ زره کسيز لښکر له ځان سره را واخيست او د هرات پر لوروخوځېد او په کندهار کې له لنډې تم کېدنې او له شهزادګي کامران سره له اړيکې نيولووروسته خپل خوځښت ته يې د هرات پر خوا دوام ورکړ او کله چې هرات ته ورسيد، د ښار پهدوه مايلي واټن کې يې کيږدۍ ووهله. حاجي فيروزالدين چې له وزيرڅخه په ويره کې وو،په بيړه د هغه مخې ته د ښه راغلاست لپاره ورغی او وزير او د هغه هملارو ملګرو ته يېتود هرکلی وکړ. د وزير لس ورځې له ښاره د باندې د هرات له مشرانو او خانانو

او لهايرانيانو سره د جگړې د ځرنگوالي په اړه په خبرو اترو تيرې شوې .

وزير چې ملاځکې يې پرهرات ددغسې لښکرې خوځښت موخه ټاکلې وه، يوه شپه د حاجي فيروزالدين ټولپـَلـَوي خانان خپلې کېږدی ته را وبلل. کله چې دغه مشران ځانگړو ټاکل شويوکيږديو ته يوړل شول، وزير ، دوست محمد خان او نورو ورونو يې له يو شمير سرتيرو سرهد ښار پر لور ودانگل او ساتونکو ته يې داسې ځرگنده کړه چې گڼې له حاجي فيروزالدينسره د ليدنې او د هغه د ميلمستيا په اړه هغه ته د مننې ويلو لپاره راغلي دي. کله چېوزير او د هغه هملارو ملگرو ته د ميلمنو ماڼۍ ته د ننوتلو لارښوونه وشوه، حاجيفيروزالدين يرغمل او ماڼۍ د وزير په ولکه کې را پريوتله .

دوست محمد خان اود هغه څو تنه چوپړيان چې "جايي سنگ" هم ورسره ملگرى وو، د حاجي فيروزالدين حرمسرايته ورننوتل او د حرمسراى ښځې يې لوټ کړې. (۵۲). او وروسته، پرته له دې چې له خپلودغو عملياتو څخه وزير ته خبروركړي، د وزير له ويرې له خپلو څو تنو چوپړيانو او لههغه څه سره يو ځاى چې له حرمسراى څخه يې ترلاسه کړي ول د کشمير پر لور وتښتېد. کلهچې وزير د خپل ورور له دغسې ليونتوبه ډک کار څخه خبر شو، ډير سخت په قهر شو او خپلورور سردار محمد عظيم ته يې ليک وليږه چې دوست محمد ونيسي او زندان ته يې وغورځوي .سردارمحمد عظيم هم همدغسې وکړل او دوست محمد خان يې د کشمير د ماران په زندان کېبندي کړ (۵۳).

د حاجي فيروزالدين په نيولو او کابل ته د هغه په راليږلو، دوزير فتح خان لومړنۍ هڅله چې د هرات نښلول له کابل سره ول، تر سره شوه. وروسته وزيرله ايرانيانوسره د جگړې لپاره تيارى ونيو او بيا يې په بيړه په ترخه افغاني ژبهايرانيانو ته خبر ورکړ چې شاه محمود هغه يوازينى پاچا دى چې په هرات کې به سکه پهخپل نامه ووهي او ماليه به راټوله کړي او خطبه به د هغه په نوم وويل شي، نه د ايراند پاچا او يا د بل چا په نامه!

د مشهد والي، شجاع السطنه حسن علي ميرزا،دغه خبر د جگړې د رابلنې په توگه وگاڼه او له مشهده د يوه ۱۴ زريز لښکر په مشرۍ کېد هرات د غوريانو پر لور راوخوځېد. له دې خوا وزير فتح خان له خپل ديرش زره کسيزلښکر سره يو ځاى د غوريانو په خوا ور وخوځېد (۵۴). کله چې شهزاد گی حسن علي د هراتلېکو ته را ورسيد، وزير فتح خان ته يې چې لا وختي غوريانو ته رسيدلى ووخپل يوخبررسوونکى وليږه او له وزير فتح خان څخه يې وغوښتل چې کوم هغه آړونه يا شرايط چېمخکې حاجي فيروزالدين منلي ول، دى دې هم ومني چې وزير په کلکه وغندل. وروسته، دواړهلښکر رامخته شول او د کهسان د کلي په څنډوکې يې مورچلونه ونيول .

وزيرفتحخان چې تورې جامې يې اغوستې او پر يوه مست غښتلي آس ناست وو، د لښکر په زړه کې ودريد او له هاغه لورې شهزادگی حسن علي د پاچاهۍ په جامو کې د خپل لښکر په منځ کېځاى پرځاى شو. مخکې له دې چې جگړه پيل شي، وزير سياسي نوښت په لاس کې واخيست او حسنعلي ميرزا ته يې خپل خبر رسوونکى وليږه او ورته يې وويل چې که د غوريانو له کلا څخهپه کراره په شا شي، نو دى به ورسره جگړه ونه کړي. له ذوالفقار خان پرته ، ټولوايراني مشرانودغه وړانديز ومانه او د هغو له منځه يوتن د عبدالوهاب په نامه وويلموږ ټول يې منو. وزير ته يې د ايراني لوري ځواب راووړ، وروسته وزير فتح خان ايرانيلورې ته بل پيغام وليږه او هڅله يې وکړه چې ايراني سرتيري دې له مورچلونوڅخه په شاشي. بيا هم ميرزا عبدالوهاب ځواب ورکړ چې دوى به همداسې وکړي. خو ذوالفقار خان لهدغو خبر په تنگ راغى او په ترخه ژبه يې وويل چې دا د ايران پرتم او نوم ته سپکاويدى او بيا يې، افغانانو ته له سپکو او ښکنځلو وروسته، ايراني توپچي ځواک ته بولندهورکړه چې د افغانانو پر لور ډزې وکړي. څلورو توپونو په ډزو پيل وکړ او خبررسوونکيپه بيړه افغانانو ته راغى. ځرگنده ده چې افغاني لوري هم ايراني لوري ته په ډزو ځوابورکړ او د سترگو په رپ کې جگړه پيل شوه. سردار شيردلخان، سردار کهندلخان، او سردارپردلخان له سرداريارمحمد خان الکوزي سره يو ځاى، هر يو يې د افغان لښکر په مشرۍ کېد تالندې او بريښنا په څير او په ځلاندو تورو د ايراني لښکر په کينه خوا چېذوالفقار خان يې مشري کوله بريد وکړ او د وژنې يوه ويرونکې ننداره يې رامنځته کړه .ايراني توپچي ځواک په دفاع لاس پورې کړ او يوشمير افغانان يې له پښو وغورځول. خو دايراني توپچي ځواک مردکي خلاص شول او له دښمن څخه لاره ورکه شوه. د نواى معارک پهوينا، شيردلخان د يوه غړمبېدونکي زمري په شان د دښمن پر ليکو بريد وکړ او دهغوى څوتوپونه يې ونيول. (۵۵(

د ايراني ځواک ښى اړخ د افغاني ځواکونو د سپاره ځواکد بريد له امله خوراو وور شو او په تېښته يې لاس پورې کړ. د شهزادگي حسن علي اس ټپيشوى وو او ژغورنه يې تر بوړنوونکي گواښ لاندې راغلې وه او ډيره هڅه يې وکړه چې دخپلو سرتيرو د تيښتې مخه ونيسي،خو هېڅ يې له لاسه ونه شول. په پاى کې يو ايرانيسرتيرى د هغه د ژغورنې لپاره را ورسيد او خپل آس يې ورته ورکړ او شهزادگی هم پهتيښته لاس پورې کړ او ځان يې مشهد ته ورساوه .

افغاني سپاره ځواک د ايران دتښتېدونکي لښکر شا ونيوله،د جگړې په دغې غاړې کې هېڅ بوړنوونکې پيښه رامنځته نهشوه، خو ناڅاپه يو ناپيژندونکى مردکى يا له خپله اړخه يا د دښمن له پلوه راغى او دوزير په ژامه ولگيده او وزير بې هوښه شو او د آس د زين له سره لاندې پرځمکه راپريوت. افغاني جنگياليو گومان کاوه چې ددوى مشر ووژل شو، د هغوى جرئت لږ شو اوددښمن له تعقيب او جگړې څخه يې لاس واخيست، مخه يې تاو او د هرات په لوروتښتېدل.

په دی توګه د افغانانو د سوبې څرګند او ځلانده چاپېریال د ماتې اوتیښتې په تورو وریځو کې را ونغاړل شو. وزیر فتح خان څو شیبې وروسته بیرته په هوښراغی او د خپلې تورې په ښورولو یې خپل جنګلیالي او سرتیري جګړې او مقاومت ته راوبلل خو هېڅ چا هغه ته پام ونه کړ او هغه هم په نا هیلیو کې ښار ته راغی او دایرانیانو د ماتې او د افغانانو د سوبې خبر یې هراتیانو ته راوووړ. له ایراني لښکرڅخه لس زره مړي د جګړې په ډګر کې راپاتې شول او نور یې مشهد ته ورسیدل او خپلهبریایې ولمانځله او په هرات کې هم بیرې او وحشت خپل ځای، خوښیو او خوشالیو تهپریښود، اوښار یې د سوبې د لمانځنې په څراغونو روښانه کړ.(۵۶). ددغې بریا خبر د شاهمحمود تر غوږ.و ورسید او هغه له کابله د هرات په لور د خوځېدلو تکل وکړ. وزیر فتحخان پوه شو چې ایرانیان نور پر هرات د برېد زړه نه لري او له ایران سره د هرات پهرانښلولو کې یې نور خپل دریځ ته بدلون ورکړی، له دې امله یې د ښار د استحکاماتو پهټینګولو ، د اداري چارو سمبالولو او د مالیې راټولو ته ملا وتړله .

افغانځیرونکي باري جهاني په خپل کتاب کې په دې اړه داسې لیکي :" فریر چې ایرانیانو سرهله جګړې څو کاله وروسته هرات ته تللی وو ددغې جګړې او د وزیر فتح خان په اړه له یوشمیر کسانو سره چې پیښې او وزیر یې په خپلو سترګو لیدلی وو، د وزیر د شخصیت په اړهداسې وویل : هغه یو ځلانده، ورمنډګر(عادل) واکمن وو او په لنډه موده کې یې د هرات دوګړو زړونه لاس ته راوړل. ما له هغو هراتیانو سره چې وزیر یې له نیږدې پیژانده،خبرې اترې وکړې، هغوی د وزیر نوم په ډېر درنښت یاداوه. وزیر هماغومره چې زړه ور وو،هماغومره سپیڅلی، پاک لاسی او پاک لمنی هم وو. هغه خپل ټول ژوند د هېواد د ګټو،پرتم او سرلوړی لپاره ځار کړی وو. پر ایرانیانو د هغه وروستۍ بریا د وزیرنومیالیتوب تر آسمانونو لوړ کړ او ځان یې د خراسان د سوبې او راخپلولو لپاره چمتوکاوه. خو په خواشینۍ په افغانستان یوې بوږنوونکې پیښې او ګواښ، د هېواد د مور غیږله یوه پوه ، ځیرک او د زړه ورانسان له شتون څخه بې برخې کړه او هغه ښکلې نقشه چې‌ده د هیواد لپاره په پام کې درلودله، له منځه ولاړه. که د هغه نقشه پلې شوې وه نوافغانستان به یو ځل بیا د احمد شاه بابا د دور پرتم اوځلانده پولو ته رسیدلی وای) ".۵۷(

انګلیسي څیرونکی پیرس وایي : د هرات له وګړو سره د وزیر فتح خان ښه چالچلند او د هغه د اداري او ولکې د چـَلـَولو ښه چې له ټینګ هوډ او ځلاندهپرتم سره ملګرې وه، په ډېر لنډ وخت کې یې د هرات د قدرپیژندونکو وګړو زړونه لاس تهراوړل او د هغه امرونو ته یې په سر او سترګو غاړه ایښودله. وزیر په هرات کې لهایرانیانو سره د بلې جګړې په فکر کې ولوید چې له لارې یې د خراسان په بیرته نیولواو را خپلولو کې خپله توره وازمیي، ددغې موخې د ترسره کولو لپاره یې یو لښکر را ټولکړ او پریکړه یې کړې وه چې په لنډ وخت کې به د خراسان او مشهد پر لور یو لښکریخوځښت کوي. (۵۸)، خو په خواشینۍ چې برخلېک له افغانانو سره ملګرتیا ونه کړه، شاهمحمود د حاجي فیروزالدین له خولې د هغې پیښې په اړه خبر شو چې د دوست محمد خان لهپلوه د هغه کورنۍ ته وریېښه شوې وه او څرګنده شوه چې د فتح خان ورور د ښځېنه سروزرو او نغدو شیانود تر لاسه کولو لپاره د فیروزالدین د حرم ښځې چې په هغو کې رقیهبیګم د شاه محمود لور هم وه، بربنډې کړې دي. ددغه خبر په اوریدلود پاچا تر پښولاندې اور بل شو او شهزادګي کامران ته یې امر ورکړ چې هرات ته ولاړ شي او د وزیرغوږ.ونه دې ورتاو کړي (۵۹ .(

## د اشرف الوزراء فتح خان د ړندیدلو څرنګوالی :

کامران میرزا چې له پخوا د وزیرفتح خان په اړه یې په زړه کې ترخه کېنه درلودله،او هغه یې د خپل پرمختګ او ځانمنني په وړاندې یو خنډ ګاڼه په بیړه د هرات په لوروخوځېد او کله چې هرات ته ورسید له شاهي ارګ دباندې ، باغ شاه (شاه لمار) یې ډیرهځای غوره کړ او وزیر فتح خان هغه ته د ښه راغلاست، درناوي اود لاربښوونو د اخیستلولپاره د هغه لېدلو ته هره ورځ ورتلو. که څه هم وزیر ته د خپلو ملګرو له پلوهلاربښوونه شوې وه چې شهزادګي کامران څخه دې ځان لیرې وساتي، خو وزیر د خپلو ملګروخبرو ته غوږ نه نیوه او هره ورځ به د خپل د درناوي د وړاندې کولو او د لاربښوونو داخیستلو لپاره د کامران لیدلو ته په ورتلنګ بوخت وو او د خپلو لیدنو او کتنو لهلارې یې غوښتل چې شهزادګي ته ډاډینه ورکړي چې د خپلو سپیڅلو کارونو او خولې تویولوپه ترڅ کې دې د سدوزیو د کورنۍ او د هغوی د واکمني له پیاوړي پرته بله موخه نه لري،خو په بل اړخ کې وزیر لیدل چې د هغه په وړاندې د کامران درښت ورځ په ورځ لیرېده) ۶۰.(

په همدې ترڅ کې کامران له شجاع السطنه (حسن علي میرزا) سره د لیکونو دراکړې ورکړې کړکۍ پرانیستله او د منصور خان په نامه یو تن یې حسن علي میرزا تهواستاوه او ورته څرګنده یې کړه چې د ایران له دولت سره وروستنۍ جګړه یوازې د وزیرپه نوښت او د شاه محمود له رضائیته پرته تر سره شوې. اوس پاچا چمتو دی چې نه یوازېد جګړې تاوان ورکړي بلکه دایران له دولته به بخښنه هم وغواړي. په دغه وخت کې چې فتحعلیشاه قاجار په مشهد کې وو او د کامران خبررسوونکی یې کتلو ته ومانه او په ځواب کې‌یې کامران ته پیغام ورکړ چې ددښمنۍ د پای ته رسولو لپاره دې وزیر فتح خان چې ددواړو هېوادونو ترمنځ د جګړې پازوالي په غاړه لري، لاس او پښې تړلی د ایران دربارته را ولیږي او یا دې هماغلته په افغانستان کې په دواړو سترګو ړوند شي. (۶۱ (

کامران ته دغې غوښتنې د یوې پلمې لاره پرانیستله او په هرات کې له درومیاشتو دیره کېدلو وروسته، یوه ورځ چې وزیر فتح خان چې دده لېدلو ته را روان وو، پهبې خبرۍ کې ونیو او د (ایران د پاچا په غوښتنه او لاربښوونه) یې د هغه دواړه سترګېوړندې کړې. (۶۲ )

وزیرفتح خان چې پاچاهۍ ته د شاه محمود په رسولو کېږخه ، کره او هراړخیزه ونده لوبولې وه، په واکمنۍ کې یې د وزارت دریځ د ځان او دخپلې کورنۍ لپاره څرګند او پریکنده حق ګاڼه .دې ترڅنګ، له دې چې ډېر کار َنده ،ځیرک او اغیزمن ولسي مشر وو، د پاچا له چړچه ماری او نا ولسیزه دریځ څخه په ګټهاخیستنې، د پاچاهۍ د واکمنۍ پوخ واک یې له پاچاهۍ څخه وزارت ته را ولیږداوو. (۷۸ .)و له خپل واک ، د تورې ځواک اومخـَورتوب څخه په ګټه اخیستې یې هڅه کوله چې د هیوادنوم او پرتم د احمدشاه بابا د ذَورشپو ورځو ته بېرته را وګرځوي (۷۹ )

پیرسد (بارکزیو د لوړیدا/ عروج بارکزائـي) د کتاب لېکوال لیکي : " وزیر فتح خان له خپلورځني مهال ویش سره سم د پخوا په شان د خپل درناوي د وړاندې کولولپاره د کامرانلیدلو ته راغلی وو، په هاغه شېبه کې عطا محمد خان ( د کشمیرپخوانی واکمن چې د وزیرفتح خان په لاس د کشمیر د واکمنې له ګدۍ بېواکه شوې وو) هم هلته وو. خبرې اترې پیلشوې او په ترڅ کې له ایرانیانوسره د جګړې خبره رامنځته شوه. د سردارانو له ډلې څخهیو تن په سپکه ژبه د جګړې له ډګر څخه د وزیرفتح خان د تیښتې خبره د پرمخ ورویشتلهاو هغه ته یې پیغور ورکړ، بل سردار هم د لومړي سردار خبره ومنله او نورو په خندا اومسخرو خپله چوپړ ماري کامران ته څرګنده کړه .

وزیر چې هره شېبه یې ویاړ اونوم ترپښولاندې کېده هرسرلاري ته یې په ډیرو توندو او ترخو کټلو ددغه سپکاوي زغمکاوه. په دغې شېبې کې کامران پښه را وړاندې کړه او وزیر ته یې په پیغور وویل: څنګهدې یو بیریدونکي لښکر ته چې ستا تر لښکر کم زورې هم وو، ماته ورنه کړه او دافغانانو نوم دې پر ځمکه وواهه؟ وزیرد شهزادګي ځواب په ډیرې ترخې ژبې ورکړ او ورتهڅرګنده یې کړه چې هغه هېڅکله د افغانانو نوم پر ځمکه نه دې ویشتلی او د افغانانو دتیښتې او هغوی ته د رسیدلې تاوان پازوالي یا مسوؤلیت هم نه لري. وزیر شهزاد ګي تهورپه یاد کړه چې له قیصر سره په کورنیو جګړو کې د کامران په وړاندې کله کله جنګېدلیخو په ډیرې وختونو کې یې خپله توره دده او د هغه د پلار په ساتنه کې چلولې ده. دغوپیغورونو کامران را وپاراوه او بولنده یې ورکړه چې وزیر دې ونیسي. ټول سرداران پهیوه غږ راپورته شول ، پر وزیر یې برېد وکړ او وزیر یې ونیو. عطا محمد خان د کامرانپه نغوته را وړاندې شو او خپل نښتر یې را وایست او نښتر یې د وزیر په سترګو کې دننهکښیښود. (۶۳) ( یو کال وروسته د عطا محمد خان سترګې په کابل کې د دوست محمد خان پهامر د وزیر فتح خان د سترګو په غچ کې له ګاټې را وایستل شوې)(۶۴). بیا، کامران وزیرد هرات ارګ ته واستاوه او دهغه پخوانی ملګری حسین خان یې د هغه د ساتندوی په توګهوټاکه. (۶۵). د کامران د جنایت دغه نېټه، تاریخ په ۱۲۳۳ ل/ ۱۸۱۸ ز کال کې لیکلې‌ده.(۵۶). کامران میرزا د خپل ژوند په ورستیو شپو ورځو کې د خپل وزیر یارمحمد خان لهلاسه ډیرې بدې ورځې، ځورونې، وهل او ټکول ولېدل اوپه یوې بوړنوونکې نندارې کې د هغهپه ژوندانه ، د هغه ترمخه پر ځوانو لوڼو او ښځو یې ددولت د چارواکو له پلوه تیریوشول او وویشل شوې ، او خپله یې له ډیرو وهلو، ټکولو ،زبېښنو او ربړوونکو ځورونو اووزیر یارمحمد خان الکوزي ته د خپلې پټې شوې پانګې له ورښودلو وروسته د ارګ په زندانکې د ستونې د مرۍ په تاوولو ووژل شو، او په دې ډول د شاه محمود د کورنۍ ټغر د تللپاره ورټول شو(۶۷ .(

د وزیر فتح خان د ړندولو په وخت کې، پردلخان اوشیردلخان د هرات د شاهي ماڼۍ په چارباغ کې د شطرنج په لوبه بوخت ول چې د یو ه تنچوپړیانو له پلوه د دوی پر ورورد راپریوتلي ناتارپه اړه خبر راغی. دوی ته له دغهخبرڅخه بشپړه ډاډیینه نه وه رارسیدلې چې د کامران ساتونکو د هغوی د نیولو لپاره دچارباغ او شاهي ماڼۍ چاپیره سیمې کلابندي کړې. ورونو چې په لاسونو کې یې یوازې یوهتوره او سیلاوې وې په یو موټې توګه پرهغو ساتونکو برېد وکړچې ددوی د نیولو تکل یې‌کړی وو او په دې ډول ځانته یې د ماڼۍ تر یوه کوره پورې د تیښتې لاره پرانیستله اوبیا د سترګو په رپ کې یې ځانونه په وسلو سمبال کړل او پر ګړندیو آسونو کښیناستل اود ښار د دروازې پر لور یې ودانګل خو هلته د کامران میرزا له یوې دوسوه کسیزې پوځیلیوا سره مخامخ شول چې دوی ته یې مخکې له مخکې مورچل نیولی وو. پرته له دې چې د دربواړو سپرو جنګلیالیو زړونو ته خرخښنه او ویره را پریوځي د کامران میرزا پرسرتیرو یېیرغل ور ووړ، یوازې پردلخان چې لړشانته ناروغ وو د دغه اخ وډب په دوړو کې یې اس دتوپک په مردکي ټپي کیږي او آس یې پرځمکه را پریوت او په خپله یې ژوند د یرغمل پهتوګه ونیول شو خو دوه تنو نورو ورونو د توریالیتوب او میړانې په څرګندونې ځانونهوژغورل او خپل مورنې ټاټوبي ، د ګرشک لویدیځ د ناد علي کلا ته په تېښته ولاړل .

پردلخان د کامران مخې ته راوستل شو، لومړی بندي او بیا خوشې کړای شو خوخوشې کېدل یې د کامران د ځانګړو آړونو یا شرطونو تر سیوري لاندې ول، خو پردلخان چېد خپل ورور وزیر فتح خان د نومیالیتوب او میړانې سپکاوی یې نه شوای زغملای و کولایشول چې له هراته وتښتي او له خپلو ورونو سره په هلمند کې یو ځای شي .

له بلېخوا کله چې کامران د پردلخان له تیښتې خبر شو، بیا یې اور یې تر پښو لاندې بل شو اوددې لپاره چې دغه اورمړ کړي نو امر یې وکړ چې د وزیر فتح خان په سترګو کې دې چېټپونه یې لږ مخ په ښه کېدلو ول د دویم ځل لپاره نښتر ور ننه باسي او هغه غوښې چېدده د سترګو په ګاټو کې ور پاتې دې راوباسي. د قاسم په نامه یوه تن ته ددغه جنایتدنده وسپارل شوه او هغه خپل خنجر د وزیر په ټپي سترګو کې بیا دننه ور ووړ او دسترګو له ګاټو څخه یې پاتې غوښتې را وایستلې .

پیرس لیکي : " پرتمین ،ننګیالي او پیځیالی "صبور" وزیر فتح خان، پرته له چې آه له خولې را وباسي او یا یېیو وییکی یا کلمه له

خولې را ووځي، په چوپه خوله د خپل برخليک دغه ناتار وزغمه) ".۶۸ (

له دغه جنايت وروسته، کامران وزير فتح خان او د هغه وراره امين الملکله ځانه سره کندهار ته راووستل. د تأريخ سلطاني د ليکوال په وينا، په کندهار کې‌نامتو او ستروزمنډ گر (قاضي القضات) (ملا محمد سعيد خان بارکزي) په کلکه د هغهملاتړ وکړ .

له بله اړخه شاه محمود پوه شو چې د وزير ورونه په کابل کې د هغهد پاچاهۍ او حکومت د نسکورولو لپاره پريکړه کړې ده نو له دې امله يې له کندهاره دکابل پر لور د خوځېدلو تکل وکړ. همدا چې شاه محمود له خپل لښکر سره له ښاره را ووتبارکزيو ورونو له خپلو ځواکونو سره يوځای د کندهار پر ښار برېد وکړ. د کندهار واليگل محمد خان پوپلزي وړاندېز وکړ چې د کابل د برخليک تر ځرگندېدلو پورې دی هغه تهوخت ورکړل شي او که پاچا کوم برياليتوب تر لاسه نه کړي نو ښار به دوی ته پرته لهجگړې وسپاري. د وزير ورونو دغه وړانديز ظاهراً ومانه او ترېوې مودې پورې سترگې پهلاره پاتې شول خو پر کلا باندې د برېد په هڅه کې پاتې شول. د وزير ورونو وروسته لهدې چې د ښار پر ديوالونو او د مورچلونو د کلاگانو پرلوړو ځايونو د پورته کېدلولپاره پريمانه پوړۍ او زينې کښېښودلې، يوه شپه يې پر کلا برېد وکړ او د سترگو په رپکې يې د ښار ديوالونه ونيول. لومړنی تن چې د کلا پرسر وخوت ميرداد خان نومېده، دی دبارکزيو لوی ملا وو چې د نورزيو پر شاه برج وخوت او د کلا منځته ننوت او نورو هم دهغه پر پل ، پل کښېښود. کله چې والي گل محمد خان له رامنځته شوې پېښې خبر شو پرتهله دې چې مقاومت وکړي ، وتښتېد او ځان يې په غزني کې شاه محمود ته ورساوه او هغه يې‌د کندهار له پېښې خبر کړ .

شيردلخان د کندهار د چارو پازوالي په غاړهواخيستله او ميرداد خان ته چې له ځانه يې ميړانه او سرښندنه ځرگنده کړې وه، د ايشيکاقاسي ستاين نوم ورکړ (۶۹). دغه سړی وروسته له امير دوست محمد خان سره بخارا تهولاړ او هيواد ته د راستنيدلو پرمهال د بخارا د پاچا له سرتيرو سره په يوې نښتې کې‌ووژل شو. (۷۰ (

د فتح خان ويرجنه وژنه:

کله چې شاه محمود د وزيرد ورونو له پاڅون او په کابل او کندهار کې د هغوی له برياوو څخه خبر شو د کابل اوغزني د لارې په اوږدو کې يې هڅه وکړه چې له وزير فتح خان سره روغه جوړه وکړي. بيا،پاچا او شهزادگې دواړو وزير ښه وزبيښنه او هغه ته يې وويل چې په کابل او کندهار کې‌دې خپلو ورونو ته لارښوونه وکړي چې له جگړې او پاڅون څخه لاس واخلي، خو ننگليالي اوتورکښ وزير د هغوی دغه ز بيښنه وزغمله او ځواب يې ورکړ چې دی نور ددنيا او سياست لهچارو سره کوم تړاو نه لري او نه ورته زړه ښه کوي او د خپلې وژنې له پايلو څخه هم نهويرېږي.

کله چې پاچا او لښکريې د ودرگو سعيد اباد ته راورسيدل يو ځل بيا يې‌وزيرفتح خان تر ربړوونکو ځورونو او زبيښنو لاندې ونيو چې خپلو ورونو ته لېک وليکې‌او له جگړې او پاڅون څخه دې د هغوی مخ ونيسي او پاچا به ده ته او د هغه ورونو تههماغه پخواني دريځونه او درناوی ورکړي او هغوی به په پخوانيو حکومتونو د واکمنو پهتوگه واستوي. وزير د پاچا په ځواب کې وويل :" ته هغوی ته هغه څه ورکوئ چې ستا پهلاس کې نه دي ، او نه ستا شتمني ده، او په دوه وو سترگو تپ يو ړوند سړی کولای شيهغه ټوله شتمني او واک راخپل کړي. مخکې له دې دې چې د وزير فتح خان سترگې ړندې دېکړې وای تا بايد د هغه پايلې څېرلې او سنجولې وای، او هغه څه چې اوس کوئ ، د راپاڅېدلي توپان د غلي کولو لپاره به گټور وي؟ خو ما له هرڅه او له هرې پايلې چې راتگر ته کيږي لاس پريمينځلی او هغه څه چې زما په برخليک کې لېکل شوي منم." (۷۱ (

له هغه وروسته پاچا امر وکړ چې د هغه د لښکر ټول سرلښکر او مشران دې د وزيرفتح خان په وژنه کې برخه واخلي او هريو دې په خپل وار د وزير فتح خان يو يو غړی لههر بند څخه ور بيل او پريک کړي. پاچا په دغه کار غوښتل چې د خپل لښکر هر سرلښکرلهبارکزيو ورونو سره له هر ډول نيږدې والي څخه ليرې وساتي د هغوی او بارکزيو ورونوترمنځ د دښمني تلپاتې زړي او تخمونه وکري. د لښکر يو شمير سرلارو ښايي له وزير څخهڅه ناڅه خوابدي درلودله او يو شمير نورو يې د وزير په وړاندې هيڅ ډول کېنه ، خوابدييا زړه بد والی نه درلود او يوازې د ځان ساتنې او ځانغوښتنې تر سيوري لاندې يې پهدغسې بې ساري تأريخي ناورين ځېلي جنايت کې برخه واخيستله. (۷۲ (
د سلطاني دتأريخ لېکوال لېکي: " کله چې شاه محمود خبرشو چې دوست محمد خان کابل نيولی، ډيرنهيلی شو او له ځان سره يې سوچ وکړ چې له دوست محمد خان سره د مخامخ کېدلو په وختکې ښايي د لښکر يو شمير سرلارې او مشران وزير فتح خان وژغورې او دوست محمد خان تهبه يې وروسپارې او ددښمن اړخ ته به ور واړي. نو ددې لپاره چې د خپل لښکر د مشرانواو د بارکزيو ترمنځ يې يوه تلپاتې دښمني رامنځته کړې وي، د لښکر ټول مشران يې راټول او هغوی يې اړ کړل چې هرو مرو به د وزيرفتح خان په وژنه کې برخه اخلي. هغوی،دغه بې ساری وزير د گنيو (نيشکر) د لښتې په شان بند پر بند پريک کړ او دغرونو اوځنگلونو د مورچلوېدغه زړ َو ُر زمري په همدغسې يوه حالت کې ان يوه آه له خولې را ونهايستله او د شهادت او طيبې کلمه يې په خوله جاري وساتله او هماغلته سپيڅلی شهادت ورپه برخه شو. (۷۳ (

انگليسي پيرس وايي : " فتح خان په ميړانې او زړورتيا اوزغم او ټينگې درېدنې دغو ځورونو ته ځان وسپاره او ترڅو چې وژل

کېده، یوه کوشنۍ آهیې له خولې ونه وتله او نه یې له چا بخښنه وغوښتله او نه یې په خپلې سزا کې د کمښتغوښتنه وکړه او له سره تر پایه یې په برم او پرتم خپل درنښت له لاسه ورنه کړ او دخدای له نامه پرته بل څه یې ونه ویل او پرتمینې مړینې ته یې ځان وسپاره. " (۷۴)

د " امیردوست محمد خان د ژوند/حیات امیردوست محمد خان" د کتاب لیکوال موهنلال لیکي چې : " زموږ په دور کې له شدلتیا او وحشت څخه ډکه هېڅ داسې یوه پېښه نهموندل کیږي چې د وزیرفتح خان له وژنې سره دې پرتله شي. ړوند او بې وسه وزیر یې بهترلو لاسونو، ځنځیرونو کې پیچلي اوغرب او غـُراب تړلی د شاه محمود دربار ته راووست ـدا هغه وزیر وو چې همدغه پاچا یې د واکمنۍ پرگدۍ کښېنولی وو- پاچا وزیر ته امر وکړچې خپلو سرغاړو او باغي وروڼو ته دې ولیکي چې پاچا ته غاړه کښېږدي. وزیر په میړانېد پاچا غوښتنه وغندله او ویې ویل: زه اوس ړوند یم او پر خپلو وروڼوهم وسه او کنترولنه لرم. شاه محمود قهرجن شو او امر یې وکړ چې ودې وژل شي. بیا د [ پاچا او شهزادگیپه مخکې ویل شوې نغوتې او اشارې] د پاچا درباریانو، وزیر خان په ډېرې شدلتیا اووحشت په داسې بڼه قصابي کړ چې لومړی یې د لاس گوتې، بیا یې لاسونه او پښې بند لهبند ور جلا کړې ، بیا یې غوږونه، پوزه او شونډې ور پریک کړې. د وزیر میړانه اوزورتیا دومره لوړه وه چې ددغې بلېگدې " زجر" په ترڅ کې یې نه د درد او خوږ چیغېوکړې او نه یې له قصابانوڅخه د زړه سواندۍ غوښتنه وکړه، او بیا یې له ټوټې تن څخه دهغه ککره ور پریک کړه " (۷۵ )

په دې توگه یې بې وسه او ناورین ځپلی وزیر بندپر بند جلا کړ او له دې چې وزیر په دغو سپیتـتو (شکنجه) کې مړ نه سو، نو د ټول بدنغړي یې د یوه پسه په شان له یو بل څخه بېل کړل او ټوټې یې په یوې لویې کځوړې کېواچولې. د وزیر ټوټې ټوټې شوی مړی د (خان علوم) د نېکه قاضي محمد سعید له پلوره) ۸۷ (غزني ته یووړ شو او د شیخ رضی الدین علي لالا د زیارت ترڅنگ خاوروته وسپارلشو. (۷۶ )

## د وزیرفتح خان د شخصیت پرتم :

وزیر فتح خان ۱۹کلن وو چې د خپل پلار سردار پاینده خان له وژل کېدلو وروسته د سیاست پر نړۍ یې پښهکښېښودله او کله چې وژل کېده، ۳۸ کلن وو. په دغې شمیرنې وزیرفتح خان ۱۹ کاله دهیواد د لیکو د ټینگولو، پرمختگ او پرتم لپاره په سربښندې هلې ځلې وکړې. هغه په ټولهېواد کې ټیکاو (امنیت) رامنځته کړ او د لیرې پرتو ولایتونو لکه : بلوڅستان، سندهـکشمیر او هرات والیان یې مرکزي دولت ته غاړې ټیټونې ته اړ کړل چې له مالیاتي گټوڅخه دې د هېواد مرکزته ولایتي ونډه واستوي . وزیر فتح خان د هیواد د ملي او ولسیواکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا په لاره کې او هر کله چې د هیواد پر سپیڅلې خاورې د پردیود لاسوهنو خبره را پورته شوې نو د هغوی په له منځه وړلو کې د هیواد اود هیواد دناموس او د ولس د نام او ننگ د ساتنې لپاره یې د مورنۍ خاورې د دښمنانو په وړاندېتور له تیکي را ایستلې او د یاغیانو او سرغاړو په وړاندې یې له کشمیر، سندهـ اوبلوڅښتانه نیولې د هرات تروروستیو کرښو پورې په میړانې سربښندنې کړې او د هیوادځمکنۍ بشپړتیا او ملي گټې یې د ولس په گټه خوندې ساتلې دي .

په وزیرفتح خانکې د میړانې او لوی لاسۍ یا سخاوت دوې ځانگړتیاوې را ټولې وې، ولس د هغه گرد چاپیرهراټول شو او نوم او پرتم یې دومره لوړ وو چې د پاچا او د هغه د کورنۍ نومیالیتوب،پرتم او دریځ یې خړپړ کړی وو. د " فریه" په وینا د فتح خان نوم په منځنۍ آسیا کې دهر چا په ژبه چلېده ، او افغانانو هغه ته ځانگړې لیوالتیا درلودله، په بل اړخ کېهغوی پاچا ته په سپکه سترگه کتلې. (۷۷)

وزیر فتح خان هېڅکله د پاچا هې دنیولو لپاره هڅه ونه کړه خو دومره واک او ځواک یې درلود چې پاچا هان یې د واکمنۍپرگدۍ کښینول او یا یې را کوزول. هېڅ شک او شوپیان نشته چې د هغه د ټولنیزو بریاوویوه برخه د هغه له توکمیز دریځه سرچینه اخیستله چې دی د بارکزیو د ټبر مشروو او دغهټبر د خپلې شمیرې او پاملرنې له اړخه د درانیو د ټبر یو ډېر مهم ټـبر وو. د وزیرفتح خان ځانگړو کړو وړو او چال چلند هم د هغه په بریاوو او ولسیز نومیالیتوب کې کرهونډه لوبولې ده .

وزیرفتح خان چې پاچاهۍ ته د شاه محمود په رسولو کې پخه ،کره او هراړخیزه ونډه لوبولې وه، په واکمنۍ کې یې د وزارت دریځ د ځان او د خپلېکورنۍ لپاره څرگند او پریکنده حق گاڼه. .دې ترڅنگ، له دې چې ډېر کار َنده ، ځیرک اواغیزمن ولسي مشر وو، د پاچا له چړچه مارۍ او نا ولسیزه دریځ څخه په گټه اخیستنې، دپاچاهۍ د واکمنۍ پوخ واک یې له پاچاهۍ څخه وزارت ته را ولیږداوو. (۷۸). او له خپلواک ، نتورې ځواک اومخـَورتوب څخه په گټه اخیستې یې هڅه کوله چې د هیواد نوم اوپرتم د احمدشاه بابا د دَورشپو ورځو ته بېرته را وگرځوي (۷۹ )

نومیالي پوهاروابناد علامه حبیبي د وزیرفتح خان د شخصیت په اړه لیکي :" فتح خان یو غښتلی ، پوه، ولسي او اغیزمن شخصیت وو چې د دُراني د توکم په منځ کې له فراه تا کندهارهیوازینی د ډگر نومیالی او د ولسي ځواک لرونکی بلل کېده. فتح خان، د هغه گڼ شمیرورونه او د هغه اغیزمن جنگیالي میرونه او کورنۍ ، د پاچا له کورنۍ وروسته، د افغانیځواک یوازینۍ ځواکمنه او پیاوړې سرچینه وه" (۸۰ )

انگلیسي الفنستون چې دوزیرفتح خان په دورکې یې ژوند کاوه، د هغه په اړه داسې لیکي : وزیر فتح خان د لوړافغاني پرتم او ځیالیتوب خاوند دی او تر دغې شیبې پورې د دُرانیو په ټولو وزیرانوکې نومیالی او مخَـَـوَرسړی دی. له دې چې وزیر په هرې چارې له ناکامۍ نه نهیلیکېږي، نو تل د لوړ معنوي ځواک لرونکی دی او په خپلو کړو وړو او خوځښت کې سترهپیاوړتیا او غښتلتوب لري. ټولو په ژبه د هغه کارپوهنه ، هوښیارۍ او زړورتیا جاریده او پـَلـَویان او هملاري یې وزیر ته د حاتم طائي په سترگو گوري او له دې دخپلې ډلې په وړاندې هېڅ ډول خنډ او ځنډ نه رامنځته کوي نو دغه ځانگړتیا هغوی لهوزیر سره په اړیکو او پالیالۍ کې ټینگ تړي. هېڅکله د خپلې ډلې په گټو کې بې پروايینه کوي او که داسې پېښ شي نو په بیړه د هغه په بیا رغښت کې ډېره هڅه کوي. څرنگه چېوویل شول وزیرفتح خان ډېنگر ، د لوړې ونې خاوند او خورا زیاته ښکلې میړنۍ څېره لري،د هغه په کړو وړو او چال چلند کې نرمښت او خاکساري پرته ده چې دغه ځانگړتیا د هغهله اصلي طبیت اوختې ښځه چې له ویرې، وچ سترگۍ ، کلک سترگۍ او بې حیایۍ ښځه پردیتوبکوي ، توپیر لري. (۸۱).

د سلطاني د تأریخ د کتاب لیکوال چې له امیردوست محمدخان سره یې په یوه وخت کې ژوند کاوه، د وزیرفتح خان د لوی لاسۍ او سخاوت په اړهداسې لیکلي دي : " نیک مرغه او نیک چاری وزیر فتح خان په میړانه کې ساری نه درلود،د جگړې د ډگر په توره او ډال کې کټ مټ لکه رستم زا وو، په توره چـَلـَونه ، مېړانهاو د میرځمن په وژنه کې د زال په شان وو، که د لوی لاسۍ لاس یې پرانیسته، نوښکارنده وه چې د حاتم او دهغه د زوی معن نوم به دې هیرشوی وای، څرگنده شوې او پهزباد رسیدلې چې هرات ته د هغه سفر، نهه سپوږمکینې میاشتې ونیولې، د سرتیرو د باړباوټاکلې مېاشتنۍ تنخوا پر شمیرې سربیره د هغه د لوی لاسۍ شمیره چې شمیرونکو یامحاسبانو د وزیرفتح خان له بندي کېدلو وروسته شهزادگي کامران ته گزارش کړې، ۹۹ لکهروپۍ او دوې مثقاله شوې." (۸۲)

فریر، د وزیرفتح خان په اړه لیکي :" وزیرفتحخان د لوړې وړتیا لرونکی ښتن وو چې د پیاوړي نبوغ ترڅنگ د حکومت کولو او جنگېدلووړتیا یې هم درلودله... او په کړو وړو کې یې ساری نه درلود... افغانانو فتح خان تهپه خورا درنښت کتل، حال دا چې خپل پاچا ته یې په سپکه کتل." (۸۳)

باریجهاني د وزیرفتح خان د شخصیت په اړه لیکي : " فتح خان په افغانستان کې دهوښیارترینو ولسي مشرانو په ډله کې یو هوښیار مشر وو. هغه یو زړور جنرال وو او لههغې ورځې وروسته چې د هېواد د تأریخ پرپاڼې یې گام کښیښود، یوه ورځ یې په کراره ډهډه ونه لگوله. هغه د خپل پلار (پاینده خان) ټولې بیلگې او ځانگړتیاوې درلودلې او دخپل پلار په شان د هوښیارۍ ، زړورتیا او وړتیا په گناه ووژل شو. فتح خان د یوهافغان هېواد پال په توگه ، ښه پوهېده چې د هېواد پوخ او کره دښمن یې ایران دی. اوایران هم د شاه محمود په ناوړه، بېوړه او بې کفایته دربار کې خپل دښمن ښه پیژندلیوو او له همدې امله وو چې په لومړۍ شونې شېبه کې یې له شهزادگي کامران څخه وغوښتلچې سترگې یې وړندې کړی او یا دې په بندي ډول مشهد ته ور واستوي. کامران دغسې یوهپلمه له لوی ښتنه غوښتله او پرته له ځنډه یې د فتح خان پر ړندولو، افغانستان لههغو دوه ځلاندو سترگو بې برخې کړ چې ځلا یې د ډیرو لړو افغانانو په سترگو کېځلېدله. فریر لیکي : " شاه محمود پوهېده چې د وزیر فتح خان د توري په زور دوه ځلهیې د پاچاهۍ پر گدۍ ډه ډه لگولې ده، له دې امله له پاچا کېدلو سره سم یې د دولتپوځي او اداري واگې د هغه په لاس کې ورکړې او په خپله د چړچه ماریو او بنډارونو پهچوتره کښیناست او ځان یې د هیواد له نورو اړوندو چارو څخه بې غمه کړ. شاه محمود پهچړچه ماریو کې څومره چې وسه یې کېدله، یوه شیبه بسنه ونه کړه. سره له دې چې د هېوادد پوځ او سیاست چارې د فتح خان په لاس کې راغونډې شوې وې، خو هېڅکله یې له دغېځواکمنې واکمنۍ څخه د ځان په گټه ناوړه گټه پورته نه کړه. هغه په لنډ وخت کې هېوادد احمدشاه بابا د دَور پرتمېنې ځواکمنۍ ته چې د تیمورشاه له وخته مخ په کښته روانوو، ورساوه. د فتح خان نومیالیتوب په ډیر لږ وخت کې په ټولې منځنۍ آسیا کې خپور شواو هر افغان د هغه نوم په ډیر درنښت په خولې راووړاو پاچاته یې په سپکه کتل. خو پههغو شپو ورځو کې سدوزیو ته دومره په درنښت کتل کېدل چې هېڅ چا د پاچا گوښه کېدنه اود هغه پرځای د پاچا د کارپوه درستیزوال د ځای ناستي په اړه سوچ نه کاوه. ځینې وایيچې فتح خان یو واک غوښتونکی او ځانمنونکی سړی وو، خو کله چې فتح خان د پاچا پهوړاندې غاړه ایښودنه کوله، هغه په دغه کار کې رښتونی وو اوپه ټولې گروهنې او ایمانیې غاړه ایښودله او په هغه دریځ چې پاچا ورکړی وو، بسنه یې کوله. که د پاچاهۍ پرگدۍیې ډه ډه لگولې وه نو د پاچاهې له نومه پرته بل څه نه ور په برخه کېدل او په بدل کېبه یې نورې سختۍ ځانته را کټولې وای. او هر څومره چې واک یې ډیرېده نو په هماغه کچهدښمنان یې هم ډیرېدل." (۸۴)

جهاني په خپلې دغې شننې کې زیاتوي " .... کهشاه محمود حق درلود چې د افغانستان پاچا شي، نو فتح خان چې له پاچا سره په پرتله کېسل ځله په پوهې ، لیرلیډ او توري کې لوړ وو، ولې نه شوای کولای دغه حق ولري؟ پهافغانستان ولسواکي نه وه چې فتح خان دې ټاکنو ته سترگه په لاره کښېنې. په افغانستانکې واکمني د توري په شرنگ اخیستل کېدله، او فتح خان پوهېده چې توره یې له هر بلتورزن څخه تیره او په کارپوهنه او تدبیر کې له بل هرچا پوه او مدبر دی. د هغه دوروڼو په کتار کې لږ تر لږه شیږ تنو یې د جگړې په ډگر او ژبه ورتوب کې خپله وړتیااو پوهه په زباد رسولې وه . فتح خان د امن او ټیکاو په ټینگولو، د مالي چارو پهسبمالښت، او د مخالفو اله گوله کوونکو په ټکولو کې په هره لویشت کې خپله وړتیا اوپوهه په زباد رسولې وه او په پای کې د خپلې وړتیا ، پوهې او رښتونولې په جرم ووژلشو. " (۸۵)

وزیرفتح خان د هیواد د ملي واکمنۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا لپاره لهکشمیره تر سندهـ او بلوڅستانه او له هغه ځایه د هرات تر وروستیو

ځنډو پورې خپل ځان، ورونه او هملاري ملګري ډال ګرځولي ول چې هیواد د پوپناه کېدنې او د ویشنې له ګواښځخه وژغوري او د سدوزیو د دولت سرغاړو او دښمنانو ته یې دا شېبه په لاس نه ورکولهچې سرراپورته کړي او ان د هغه پخواني میرځمن رنجیت سینهګ د فتح خان د ژوند تروروستۍ شېبې پورې بیا زړه ونه کړ چې د درانیو د واکمنۍ پر خاورې سترګې نیغې یا ښخې‌کړي. په خواشینۍ چې د هېواد دغسې یو ولسي، ملي او تأریخي شخصیت د یوه ناپوههشهزادګي د رخې او سخې او کینې له امله په ډېره بیړه ړوند او بیا د هغه د پلار پهلاس ووژل شو او په دې توګه د سدوزیو د اتیا کلنې پاچاهۍ تغر د هیواد له سیاسیچاپیریال ځخه راټول شو .

پای

اخځونه او سرچینې :
مآخذ ورویکردها ::


١ ـالفنستون ، افغانان، د آصف فکرت ژباړه ، پ ٥٠۴
٢ ـالفنستون ،افغانان، پ٥١١
٣ ـتأریخ سلطاني، سلطان محمدخالص بارکزی، تاریخ سلطاني ،چاپ١٢٨٩هجری=١٨٨١ز،بمبئی، پ١٢٣، پیرس، د بارکزیو لوړېدا/ عروج بارکزائی، د پژواک اوصدقي ژباړه ،پ٢۴،ټ٣
۴ ـالفنستون،افغانان،د فکرت ژباړه ، پ ٥١۴، پښتوژباړه لومړی ټوک، د حسنکاکړ،د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ چاپ ، ١٣۶١ل پ٢٩۴
٥ ـموهن لال ، د امیردوستمحمد خان ژوند/حیات امیردوست محمدخان،ټ١، پ ٢٧
۶ـپیرس،د بارکزیو لوړېدا /عروجبارکزائی، پ ٢۴
٧ ـعزیزالدین وکیلی پوپلزائی،تیمورشاه دراني،ټ٢، پ ٣٢۶ـ ٣٢٧،تاریخ سلطاني، له٢٠١پاڼې وروسته
٨ ـپوپلزائی، همدغه اثر، پ۶۶٥ـ ۶۶٧
٩ ـپیرس،دبارکزیو لوړېدا/ عروج بارکزائی ، پ ٢۴ـ ٢٥
١٠ ـالفنستن، د کابل د پاچاهۍ خېړنه / بیان سلطنت کابل، ټ٢،پ٢٩۴،پښتو ژباړه ،نصرالله سوبمن، پاړسي ژباړه د فکرت، چاپ : مشهد ایران، پ ٥١۴
١١ ـالفنستون، هماغه اثر، پ ٥١٥
١٢ ـتاریخ سلطاني،پ ١٧٣،الفنستون،هماغه، پ٢٩۶
١٣ ـپوپلزائی، دره الزمان فی التاریخ شاه زمان، طبع ١٣٣٧ل،پ١٨٢
١۴ ـتاریخ سلطاني،پپ ١٧٢ـ ١٧٣، کهزاد، رجال ورویدادهای تاریخي، پ١٣
١٥ـپیرس،هماغه اثر، پپ ٢۶ـ ٢٨
١۶ ـکهزاد،رجال ورویدادهای تاریخی، پ١٥،تاریخ وقایع وسوانح افغانستان،دعلیقلی میرزا، پ۶١، چاپ١٣٧۶تهران
١٧ ـکهزاد،رجال ورویدادهای تاریخی، پپ٢۴ـ ٢٨
١٨ ـکهزاد،هماغه اثر،پ ٣١
١٩ ـداسې ښکاریچې ظاهرأ له شاه شجاع سره د پټو اړیکو د لرلو په تور نیول اوبندي شوی وو (الفنستن،ټ٢، پ ٣٠١ـ ٣٠۴(
٢٠ ـپیرس، هماغه اثر،پ ٣١، الفنستن،ټ٢، پ ٣٠۴ـ ٣٠٥
٢١ ـپیرس،ههماغلته، پوپلزائی،درة الزمان، پ ٢٠٢
٢٢ ـپیرس، هماغه اثر، پ ٣٢ـ ٣٣،الفنستن،ټ٢، ٣٠٥
٢٣ـهماغه آثار هموغو ځایونو کې
٢۴ـپیرس ،د بارکزیو لوړېدا /عروج بارکزائی، پ ٣۴
٢٥ ـالفنستون،د آصف فکرت ژباړه ، پ ٥٢٢
٢۶ ـموهن لال،دامیردوست محمد خان ژوند/ حیات امیر دوست محمدخان، ټ١،پ٨١
٢٧ ـتاریخ سلطاني،پ١٨٢ ـ١٨٣،د شاه شجاع پیښې/ واقعات شاه شجاع، چاپ ١٣٣٣ل، پپ ٩ـ ١١
٢٨ ـالفنستون،د فکرت ژباړه ، پ ٥٢۴
٢٩ ـبحواله درة الزمان، پ ٢١۴
٣٠ ـالفنستون،د فکرتژباړه ، پ ٥٠٧
٣١ ـالفنستون، افغانان (بیان سلطنت کابل) د فکرت ژباړه، پ٥٢٥ ، دشاه شجاع پیښې/ واقعات شاه شجاع، پ١١
٣٢ ـتاریخ سلطاني،پ ١٨۴،کهزاد،د کابلبالاحصار/ بالاحصارکابل، ټ٢،پ ١۴٢
٣٣ ـالفنستون،هماغه، پ ٥٢٧، پیرس، د بارکزیولوړېدا/ عروج بارکزائی، پ۴٧
٣۴ـموهن لال، د امیر دوست محمد خان ژوند/ زندګیامیردوست محمدخان،ټ١،پ ٨٧
٣٥ـ٣۶ ـموهن لال،د امیر دوست محمد خان ژوند /حیاتامیردوست محمدخان،د ډاکټرهاشمیان ژباړه ،ټ١، پپ ٩٠ـ ٩٣
٣٧ ـپیرس،د بارکزیولوړېدا/ عروج بارکزائی، پ ۴٨
٣٨ ـالفنستون، د فکرت ژباړه، پ ٥٢٩

۳۹ -موهنلال، د امیر دوست محمد خان ژوند /حیات امیردوست محمدخان،ټ۱، پ ۵۷- ۵۸
۴۰ -الفنستون،افغانان، د فکرت ژباړه، پ ۵۳۴
۴۱-موهن لال، د امیر دوست محمد خان ژوند/ زندگی امیردوست محمدخان ،ټ۱، پ۱۰۱
۴۲-پیرس، هماغه اثر، پ ۶۱- ۶۲
۴۳ -هماغهاثر، پپ ۶۶- ۶۷
۴۴ -پیرس ، هماغه اثر، پ ۷۴- ۷۵
۴۵-موهن لال،هماغه اثر، پ ۵۷ -۵۸
۴۶ -تاریخ سلطاني،پپ ۱۹۳- ۱۹۵
۴۷ -د شاه شجاع پيښي / واقعات شاه شجاع،پ۴۲،کهزاد،د افغاستان د اوسني تأریخ په ګوټونو کې / در زوایای تاریخ معاصر افغانستان، پ۴۰
۴۸ -پیرس، هماغه اثر، پ۷۹
۴۹ -فرهنګ، افغانستان په وروستیوپينځه پیړیو کې / افغانستان درپنج قرن اخیر،پ ۱۴۹،نوای معارک، پپ ۱۰ -۱۱
۵۰-پیرس،دبارکزیو لوړېدا/ عروج بارکزائی،۸۶
۵۱ -کهزاد، د افغاستان د اوسنيتأریخ په ګوټونو کې / در زوایای تاریخ معاصر افغانستا، چاپ ۱۳۳۱ل، پ ۴۷
۵۲ -پیرس، د بارکزیو لوړېدا / عروج بارکزائی،پ ۸۸
۵۳ -ویل شوي دي چې دوست محمد خانټول هغه سره زر او ګرانبيه غمي چې د حاجي فيروزالدين له ښځو او لونو او د هغه لهناوی رقيه بيګم څخه چې د شهزادګي کامران خور (دملک قاسم ماندينه) وو اخيستي دي اوان له غميو ډک يو ملاتړونی چې بيه يې پينځوس زرو تومانو ته رسيدله د رقيبي له ملا راخلاص کړ او جامي ور وځيرلي او هغه يې سپکه کړه. د دوست محمد خان دغه تيروتنه او خطاد وزير فتح خان په ړنديدلو او په ډيرې بوږنوونکي توګه د هغه د وژل کېدلو په بيه وه .
۵۴ -میرمحمدصدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پينځه پیړیو کې / افغانستاندرپنج قرن اخیر، د امریکا چاپ ، پ ۱۴۹
۵۵ -کله چې وزيرفتح خان د جګړې په تکل دهرات له ښاره دباند ووت ،دښار کونجي" کيلي" يې د حيدرآباد د اميرانو استازيميراسماعيل وکيل او د سنده د خيرپور د اميرانو استازي حاجي شير محمد خان تهوسپارله. (نوای معارک، پ۶۵(
۵۶-نوای معارک، پ۲۰-پیرس، پپ۹۶- ۹۷، تاریخسلطاني(پ۱۹۹) د جګړې د پيل نېټه يې د ذی الحجی ۲۸ د ۱۲۳۳هجري قمري ليکلي ده چې د۱۸۱۸زکال د اکتور له ۲۹ سره سمون خوري .
۵۷ -عبدالباري جهاني، هرات، پښتانه اوستره لوبه ،پ ۲۲۷
۵۸ -پیرس، هماغه اثر، پ ۹۸
۵۹ -تاریخ سلطاني،پ۲۰۰
۶۰-تاریخ سلطاني، هماغلته، او هم د بارکزیو لوړېدا/ روج بارکزائی، پ۹۸
۶۱ -فیض محمدکاتب، سراج التواریخ، ټ۱، پ۹۷
۶۲ -فرهنګ، هماغه اثر،پ۱۴۷،سراج التواریخ،ټ۱، پ۹۷
۶۳ -پیرس،هماغه اثر، پپ ۹۹- ۱۱۰
۶۴-۶۵ -پیرس،هماغه،پپ ۱۰۱- ۱۱۰
۶۶ -حبیبی،د افغانستان لنډ تأریخ/ تاریخ مختصرافغانستان،ټ۲،پ۱۰۷
۶۷ -پیرس، هماغه، پ ۹۹- ۱۰۰
۶۸-فرهنګ، افغانستان په وروستیو پينځه پیړیوکې / افغانستان در پنج قرن اخیر، ټ۱، پ ۱۹۸
۶۹ -فیض محمد،سراج التواریخ،ټ۱،پ۱۰۲
۷۰ -حمید کشمیری،اکبرنامه،۱۳۳۰، له۱۶۵ پ وروسته
۷۱-پیرس،د بارکزیولوړېدا/ عروج بارکزائی، پ ۱۰۹
۷۲-سراج التواریخ،ټ۱، پ۱۰۰
۷۳ -سلطان محمدخالصبارکزی، تاریخ سلطاني،چاپ۱۲۸۹هجری=۱۸۸۱م، بمبئی، پ۲۰۳
۷۴-پیرس،هماغه اثر،پ۱۰۹
۷۵-موهن لال،د امیردوست محمد خان ژوند/ حیات امیردوست محمدخان،ټ۱،پ۱۲۶
۷۶ -د وزير فتح خان د پلار مړی هم همدغه قاضي محمد سعيد خان بارکزي دزمانشاه په اجازي د کندهار ذاکر ته وليږدوه او خاورو ته يې وسپاره. (فرهنګ، پ۱۳۳ -(د وزير فتح خان قبر د کانو پرسر هغه شعرونه چې کېندل شوي دي د هغه د ژوند دلوړوژورو څرګندونه کوي او هغه يې د لوړ دريځ لرونکي ستر شهيد بللی دی. .(رک: دافغانستان دوه سياسي او پوځي نوابغ / دونابغه سیاسی- نظامی افغانستان، پ۱۱۵(
۷۷ -۷۸فرهنګ، افغانستان په وروستیو پينځه پیړیو کې / افغانستان درپنج قرناخیر،چاپ ایران۱۳۷۱،ټ۱، پ۲۱۰
۷۹-پیرس، پ ۶۶
۸۰-حبیبی، د افغانستان لنډ تأریخ /تاریخ مختصرافغانستان،۱۳۴۹کابل،ټ۲، پ۱۰۴
۸۱-الفنستون،بیان سلطنت کابل،ټ۲،پ۲۹۹
۸۲-تاریخ سلطاني،پ ۲۰۳، سراج التواریخ،ټ۱،پ ۹۲،دغه شمیره ۹۶ لک روپی قید کړیدي.

٨٣-پیرس، د بارکزیو لوړېدا/ عروج بارکزائی، پ ۶۶
٨۴-باري جهانی،هماغهاثر، پ ۲۳۱-۲۳۲
٨۵-باري جهاني ، هماغه، پ ۲۳۳